# اسلام او جمهوریت

## دوه مختلف قطبونه

مصنف
ابو عمر مقبول اورکزی

بسم الله الرحمن الرحيم

ان الــحمدلله وحده، والصلوة والسلام علـــى من لانبىّ بعده، اما بعد:

خشــت اول چــون نهد معــمار كج
تــا ثــريــا مــى رود ديـــوار كج

د شريعت د نفاذ لپاره دبنياد صحيح كول ډير ضروري دي. داجمهوری طريقه چونكه د شريعت مطهره سراسر خلاف ده نوپه داسی طريقه د نفاذ شريعت طمع لرل هم كم عقلی ده.

دجمهوری نظام له نقصاناتو نه عوام خبرول يوه لويه فريضه ده او زمونږ خوږ وروور الشيخ محمد مقبول حفظ الله ددی فريضې په اداكولو ښه قدم پورته كړی دی. الله تعالى دی ترقي وركړي.

مادا تحرير دوخت دقلت د وجی ډيركم ولوستلو خوبياهم مفيد تحرير دی.

الله تعالى دی زمونږ ملك بلكه په تمام سرزمين اسلام شريعت سره مزين او منور كړي. والسلام.

از محمد منير شاكر

27 / 12 /2007

بمقام مدرسه آرغنجا

قوم ماموزئ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على رسوله محمد واله وصحبه اجمعين امابعد: مونږ د مولانا او ګران دوست شيخ مقبول حفظه الله رساله په رد د جمهوريت کی حرفاً حرفاً وکتله مهمه رساله ده د کتاب او سنت سره برابره ده، نو مسلمانانو له تری فائده اخستل پکار دي او د جمهوريت د لعنت نه ځان خلاصول ضروري دی. په دی باب کی جاهل پاتی کیدل ایا د الله تعالی په نزد به عزر وی څه ؟؟

بعضی خلک شرک القبور شرک الاصنام پیژنی لکن شرک فی الحکم والتشريع نه پيژني او نه ځان خبره وي د توحيد اهم حصه تری برباده شي والعياذ بالله.

نو ټولو مسلمانانو ته درخواست کوو چی قرآن او سنت ته عقيدتاً او عملاً متوجه شي او جمهوريت شرک، بدعت، خرافات، اتباع الاراء والمخالفی الکتاب پريږدي او د اخرت د پاره تياری وکړي

الله تعالی دی شيخ مقبول ته د دی عمل اجر جزيل ورکړي او مزيد توفيق دی ورکړي چی د دين دعوت په لسان، بيان او قلم سره وکړي

د جمهوريت يوه حصه مولانا مقبول بيان کړی ده، که څوک تفصيل ګوري نو د عبد الرحمن ګيلانی رحمه الله کتاب خلافت او جمهوريت دی وګوري.

ستاسو ورور ابو محمد امين الله بشاوری

1329 هـ محرم الحرام (10) يوم عاشورا.

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله الذی اعطی لنبیہ القرآن ومثلہ معہ ولم یجعل لہ عوجاً ولم نحتاج فی دینہ الی شئ اخر وصلی اللہ علی من اوتی من الکلم جوامعہ وعلی الہ وصحبہ ومن تبعہم باحسان الی یوم الدین وبعدُ فقد قال اللہ وان تطع اکثر من فی الارض یضلوک عن سبیل اللہ(سورہ انعام :116)** .کہ دجمهوریت او اکثریت اطاعت دی وکړه نو دقرآن او سنت سیدی لاری نه بہ دی واړوي پہ جمهوریت حکم او فیصلہ دغیراللہ وي اللہ تعالی وایی: **وَمن لم یحکم بما انزل اللہ فاولئک هم الکافرون°**. بیا وایی فاولئک هم الظالمون بیا وایی فاولئک هم الفسقون ایت 44_45_47 سورہ مائدہ. نو جمهوری نظام والاو باندی هرکله چی داللہ تعالی اود رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم دحکم پہ مقابلی کی طاغوتي او جمهوری قانون او حکم چلوي دا دری واړه حکمونه صادق دي هم الکافرون هم الظالمون هم الفاسقون علامہ شاطبی وایی پہ اعتصام کی وایی: (( **اِتَّبِعَ طُرُقَ الهدایة ولایَغُرَّنَّکَ قِلَّةَ السالکین وَاِیَّاکَ وَطُرق الضلالة ولاتغتر بکثرت السالکین** )) یعنی قران او سنت کی هدایت دی دی پسی روان شہ اګر دهدایت ملګری لږ وی هم دضلالت پہ لارو مہ زہ اګر دهغہ جمهوریت او اکثریت وي هم.

چلاسی باباوائی اګر جمهوریت این انتحاب است+عذاب است عذاب است عذاب است.

بر هر پنج سال جنگ دارند۔ زمین او ملک بر خود تنگ دارند + یک روز از هاتف شنیدم که بر مرداری غوغای کلاب است.

دمسلمانانو دپاره دزندګۍ تیره ولو قانون قران او سنت دی که بادشاه وي که داعي وي که ښځه وي او که نر وي څوک چې دقرآن او سنت مقابلې کې نورو قواعد او قوانین مقرر کړي هغه کافر دی داسلام دائرې نه خارج دی هم تحلیل او تحریم داللّٰه صفت او حدود الله مقرر کړیدي هر هغه څوک چې تحلیل او تحریم او حدود دځان مقرر کړي هغه بالاتفاق کافردی په جمهوریت کې هم دقران او احادیثو په مقابل کې نور قوانین او قواعد جوړوي لهذا جمهوریت دکفر قانون دی دجمهوری قانون په رد کې ډیر علمای کرامو کتابونه لیکلي دي زما هم اراده ده چې زه هم لیکل وکړم چې موجوده جمهوریت قانون د کفر دی که چیرته موقع ملاو شي بیا به انشاء الله دی کفری قانون باندی مدلل کتاب ولیکم لیکن هر کله چې زمونږ ورور مقبول صاحب په ډیر اخلاص او کوشش سره په رد د جمهوریت باندی دقرآن او سنت په رڼا کې کتاب ولیکلو نو دا ښه مدلل او مبرهن کتاب دی اګرچې دعدم فرصت د وخت دوجې نه می پوره ونه کتل لیکن سرسری نظر سره هم معلومات وشو چې ډیر ښه رد پکې موجود دی۔ الله تعالی دی لیکونکي ته اجر کامل ورکړي آمین۔ ازبنده ناچیز عبدالمجید عفی عنه رئیس مدرسه مظهر العلوم۔

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله رب العلمين ولصلواة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين محمد و علـى الـه واصحابه اجمعين ـــــــ وبعد :**

لوستونکو ته معلومه ده چې د اسلامي خلافت د سقوط نه وروسته اسلامي امت په شپږو پنځوسو ټوټو وويشل شو او په هرې ټوټې ديهودو او نصارا او لاسپوخي په مسلمانانو ور وتپل شول. دغه ګوډاګيانو نه يوازې د خپلې عياشۍ په مقابل کې د اسلامي امت ثروت او قدرتي منابع عالمي استکبار ته وسپارل بلکه نوی نسل يې د انساني حقوقو، مساوات، حقوق نسوان، بشري آيين او د جمهوريت په ستنو نشه کړل او آن تر دې چې ډير شکم پرست ملايان او سياسي ليډران يې د طاغوتي ادارو مخې ته ډال کړل.

اګر چې عالمي استکبار په اسلامي نړۍ کې يو معيار نه لري او په هر اسلامي ملک کې د خپلو ګټو په اساس په يو ملک کې ملوکيت، بل کې جمهوريت او په بل کې آمريت حمايه کوي خو دا چې د اسلامي امت په ثروت او په عالمي سطح د بلاغ په ذريعو قابض دی د اسلامي امت عام وګړي د دې حقيقت د پوهې نه لرې ساتل کيږي چې د انسان جوړ کړی قانون، آيين او د جمهوري ادارې منل کفر ته تسليمېدل دي

. په اوس وخت کې خو دلات او منات عبادت نه کيږي بلکه د اوس وخت بوتان پارلمنټ ، جمهوريت ، آين غير شرعي جرګه وغيره دی. الله پاک په قرآن کی دخپل نازل کړي قانون پرته ټولو قوانينو ، آينونو اودساتيرو ته کفر ، ظلم او فسق ويلي ، داوخت اسلامي امت ته د هرڅه نه زيات داسلام په مقابل کی د کفري قوانينو مخالفت اوپه اسلام کې ددوستۍ او دښمنۍ (ولاء او براء) اصول دکلمې شرايط او دايمان ماتونکې خبرې پيژندل ډير ضروري دی. دنظر لاندی کتاب دفضيلة الشيخ مقبول حفظه الله په دی موضوع يو ډير ښه کوښښ دی. په دی موضوع نوری ليکنی هم شوي خو موصوف شيخ صاحب په لنډه او مدلله توګه کفري قوانينو ته دمسلمانانو توجه راګرزولې ده.

نو موړې شيخ صاحب ماته خپل کتاب دژبې دتصحيح او کره کتنې دپاره راکړ. دمانه مخکې ددغه کتاب علمي کره کتنه دپيښور جيدو علماو کړی وه اوداد هغوی حق و. ماته کتاب په آخر کې فقط دژبې ، ترتيب ، کمپوز او دچاپ دپاره راکړی شو. داکتاب دشيخ مقبول حفظه الله وړومبې کوښښ دی موږه ددغه کوښښ قدر دانې او هرکلی کوو او کوښښ مو کړی چی ژبه يې ساده اودعامو لوستونکو داستفادی وړ پاتې شي او په آئنده کې شيخ مقبول صاحب ته دلاډير علمي خدمت دعاکوو. الله پاک دی ددوی په نيکو هلو ځلو کی برکت واچوي. آمين.

بدر الزمان بدر.

# يوه ضروري يادونه

قدرمنولوستونکو! فی الحال می خلافت او جمهوریت په باره کی یوه رساله ولیکله ، ترڅو ګرانو لوستونکو ته معلوم شي چې دخلافت او جمهوریت ترمنځ څومره لوی فرق دی . خو داچي خلافت به څنګه قائمیږي په دی اړه یوی مستقلی رسالې ته ضرورت دی ، انشاء الله ډیر ژر به دخلافت دقائمیدو په اړه هم یوه رساله ستاسې په خدمت کې پیش کړم .

والسّلام .

ابو عمر مقبول اورکزی

بسم الله الرحمن الرحيم

**داسلام او جمهوريت ترمنځ فرق او مخالفت**: يادساتئ چې په دې کې هغه جمهوريت هم شامل دی چې هغه په اسلامي ممالکو کې رائج دی او دوی ورته اسلامی جمهوريت وايي .

**جمهوريت** : جمهوري نظام کی د پارټيانو جوړول انتهائي ضروري او د دغه نظام ډير لوی جزء دی .

(۱) **اسلام**: الله تعالی فرمائي :

﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾. [آل عمران۱۰۵].

اومه کيږئ پشان دهغه کسانو چې فرقې شويدي او اختلاف يې کړی دی ، دوی ته د ښکاره دلائلو راتلونه روسته، دغوکسانو دپاره لوی عذاب دی.

اوفرمائي :

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾[العمران:۱۰۳].

او مضبوطه ونيسئ رسۍ دالله (يعنی قرآن او حديث) ټول او فرقې فرقې مه کيږئ.

او رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايی: (( فاعتزل تِلْكَ الْفِرق كُلَّهَا )) بخاری مسلم. چې دغه ټولې فرقې پرېږده.

دفرقو او پارټيانو د جوړولو او دغو فرقو سره ملګري کېدلو ته منع په ډيرو آيتونو او حديثونو کې راغلی ده.

**جمهوريت** : په جمهوری نظام کې دايو جائز کار دی چې ليډران د امارت او وزارت دمشري حرص کوي او غواړي يی. دانه يواځې په کی جايز دی بلکه داد جمهوری نظام دومره ضروري حصه او جزء دی چې له دينه بغير جمهوري نظام چليدای نه شي... .

(٢) **اسلام** : رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايي : (( لاتسئل الإمارةَ )) بخاری اومسلم. امارت مه غواړه.

رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايي : (( والله لانُوَلِّيَ هذا العملَ أَحداً سألهُ، أوْ أَحَدًا حرص عليه )) رواه البخاری ومسلم.

(( زما دی په الله قسم وي چې مونږ هغه څوک امير (وزير او مشر وغيره) نه جوړوو چې داغواړي او حرص يې کوي.

**جمهوریت** : په جمهوري نظام کی د چا منتخب کولو اوټاکلو دپاره دملک له ټولو بالغو عوامو نه تپوس کیږي اوله هغوی سره په دی کی مشوره کیږي، اګرکه دغه عوام دانتهایی درجې جاهلان وي اود انتخابي او حکومتی معاملې په ابجدو هم نه پوهیږي. اګرکه دوی داسې خیانت ګروي چی دهیڅ خیر امید هم ترینه نه کیږي، او اګرکه دوی داسی مشرکان او کافران وي چی همیشه داسلام د ختمولو کوشش کی لګیاوي .

(۳) **اسلام** : الله تعالی فرمایي :

﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النحل۴۳].

له عالمانو نه تپوس وکړئ که چیری نه پوهیږئ.

او رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : (( اَلْمُسْتَشَارُمُؤْتَمَنٌ )) سنن اربعه وغیره. له چاسره چی مشوره کیږي هغه باید امانت داروي.

او الله فرمایي :

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا﴾ [ الـعمران :۱۱۸].

ای هغو کسانو چی ایمان مو راوړی دی ! مه جوړوئ راز داران ( اومشیران) دخپل ( ایمان والاؤ) نه علاوه بل څوک (بی ایمانو ) لره کمې نه کوي دوی ستاسی په نقصان کی .

**جمهوریت** : په جمهوري نظام کی بیاهغه څوک منتخب ګڼل کیږي یعنی هغه څوک بیا حکمران ، وزیر یاد پارلمینټ غړی اورکن جوړیږي چی چاته ددغه ګمراه عوامو اکثریت ووټ ورکړی او منتخب کړی یی دی .

**(۴)اسلام** : الله تقریباً په شپیتو ایتونو کې دغه اکثریت غندلی او مذمت یی کړی دی اوفرمایلی یی دي چی اکثریت جاهلان دي،بی عقله دي، نه پوهیږي، شکر نه کوي، ایمان نه راوړي، که ایمان راوړی نوشرک ورسره ګډوي.

﴿ وَمَايؤمِنُ اكثرهم بالله الا وَهُمْ مُشْرِكُوْنَ﴾. او ایمان نه راوړي اکثر د دوی نه په الله مګر په داسی حال کی چې دوی شرک کوونکي وي.

همدارنګ الله وایی چی: اکثریت دخلکو دروغژن دي، له حق نه یی نفرت دی یعنی حق بد ګڼي ، کافران دي اوله کفرنه علاوه د هرشي نه د دوی انکار دی وغیره وغیره. په هم دی وجه الله فرمایي:﴿ وَإِنْ تُطِعْ أكثرَمِنْ فی الارض یُضلوك عن سبیل الله﴾ سوره الانعام .

که چیرته د هغه اکثریت خبره دی ومنله چی په زمکه کې دي نو دالله دلارې ( اسلام ) نه به دی واړوي( ګمراه به دی کړي او غلط به دی کړي ).

**جمهوریت** : په جمهوری نظام کی چې عوام څوک منتخب کوي ، ووټونه ورته ورکوي یعنی هغه څوک چې، ووټونو ته ودریږي په هغه کې داشرط نشته چی هغه به د ظاهري اعمالو په لحاظ دالله خوښ وي او داشرط هم پکې نشته چی هغه به داسلام ددین عالم وي اوپه دیني اوشرعي علومو کې مهارت ولري.

(۵) **اسلام** : په اسلام کی هغه څوک حکمران یاوزیر وغیره جوړیږي چی هغه په ظاهره دعقیدی اوعمل په لحاظ دالله خوښ وي، یعنی مسلمان وي، پرهیزګار وي او عقیده یی دقرآن او حدیث مطابق وي..، خصوصاً په دیني اوشرعي علومو کی عالم اوماهروي په جسم کی به هم برابر وسالم وي. بلکی په دغه دریو شیانو کی به له نورو نه بهتروي. الله فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ﴾ .

(( یقیناً الله دغه (طالوت ته ) غوره والی ورکړی دی په تاسو باندی او ډیره یی ورکړیده هغه ته فراخي په علم او جسم (همت او شجاعت) کې )).

يعنى الله طالوت دبنى اسرائيلو حكمران په دريو وجوهاتو جوړ کړی و. (۱) الله ته هغه له نورو بني اسرائيلو نه زيات خوښ و. (۲) له هغه سره د نورو نه زيات علم و. (۳) په جسم، همت او شجاعت کی هم بهتر و. الله مونږ ته دغه قصه په دی وجه بيان کړه چی تاسو هم همدغسی ې وکړئ يعنی دغه دری واړه صفات چی يوځای په چاکې موجود وي نو هغه خپل حكمران جوړ کړئ.

کله چی د ووټونو او انتخاباتو وخت ختم شي نو يو پارټي په دومره اکثريت سره کاميابيږي چی هغه د جمهوري نظام مطابق دحکومت جوړولو قابل ګرځي نو دهمدغې پارټۍ ليډر بيا وزير اعظم ياصدر جوړيږي، پاتی پارټيانې چی دجمهوري اصولو مطابق څومره ووټونه حاصل کړي په پارلمينټ کی درکنيت څوکۍ ترلاسه کوي دپارلمان دغو غړو ته دقانون جوړولو اختيار ورکوي. اوس مونږ ګورو چی دقانون جوړولو دغه پارلمان او اسلامي مجلس شوری ترمنځ څه فرق دی؟ جمهوري مجلس شورای کی تاوکتل چی د جاهلو او ګمراه عوامو په ووټونو هغه خلک پارلمان ته راغلی دي چی دالله ددين او دشريعت د علم اوپه دی باندی دعمل شرط نه بغير پارلمينټ ته داخل شويدي اود جمهوري مجلس شوری ارکان جوړ شويدي په داسی حال کی چی دامانت داری له شرط نه هم محروم وو.

**اسلام** : اسلامی شوراکی اول شرط دادی چی دشوری ارکان به علماء ماهران او امانت دار وي. الله فرمايي:﴿ فاسئلوا أهل الذِّكْرِ

إِنْ كُنْتُمْ لاتعلمـــون﴾ . كـه نـه پوهيـږئ نـو دعلـم لـه خاونـدانو نـه پوښتنه وکړئ.

رسول الله صلى الله عليـه وسلم فرمـايي : (( اَلْمُسْتشارُ مُؤتَمَنٌ )) مشوره چي له چاسره کيږي هغه بايد امانت دار وي .

دجمهـوري شورى اركـانو تـه د جمهـوري نظـام پـه مطابق هرقسم قانون جوړول خصوصاً دالله دشريعت مخالفت كول يو جائز كاردى، همـدا وجـه ده چـى دنـورو قـوانينـو پـه شـان دالله شـريعت هـم دغـى جمهورى او طاغوتى شورى تـه پيش كيږي او جمهـورى (( علماء )) يى پيش كوي... شورى دشريعت بـل مخالفت كوي اوپـه خلاف يـى راى وركـوي دغـو مخـالفينو تـه ددغـه مخالفـت پـه وجـه نـه څـه سزا وركـول كيـږي اونـه هـم ورتـه پـه جمهـورى قـانون كـى څـه سزا شته، لدينه معلومه شوه چى جمهوري قانون خپل جمهوري مجلس شورى دپاره داسلامى شريعت مخالفت جائز ګرځولى دى.

(۷) **اسلام** : الله فرمايي :

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا﴾ [الأحزاب٣٦].

(( کله چی الله او دهغه رسول صلی‌الله علیه وسلم دیوکار فیصله وکړي نو مؤمن سړی او مومنې ښځې دپاره دا جائز نه دی چی (بیاهم) د دوی په خپل کار کی څه اختیاروي او چاچی دالله اودهغه درسول صلی‌الله علیه وسلم نافرماني وکړه نودا په ښکاره ګمراهۍ سره ګمراه شو)).

په دی خبره د ټول امت اجماع ده چې چا داسلامی شریعت مخالفت جائز وګڼلو نو هغه داسلام نه ووت اوکافرشو. (( لاَيــَجْتمعُ أُمَّتِىْ علــىضلالةٍ )) ترمذی. زما امت په ګمراهۍ نه جمع کیږي.

ددغه پاسني آیت نه داهم معلومه شوه چی‌په کوم شی کی دالله یادهغه درسول صلی‌الله علیه وسلم حکم موجود وي یاپه کوم شي باندی دامت اجماع وي نو په هغه کی دقانون جوړولو یانه جوړولو په باره کی مشوری کول جائز نه دي، ځکه چی مشوره خو دداسې شي په باره کی کړي چی دهغه نقصان اوفایده پوره نه وي معلومه شوې او دا پته یی نه وي چی دغه شی حق دی که باطل ؟ لیکن ته خو په دې وجه مسلمان یی چی د الله شریعت (یعنی قرآن، حدیث او اجماع) حق ګڼی اود الله له شریعت نه مخالف قوانین باطل منی. نوپه دی کی دمشوری کولو څه ضرورت دی؟! په داسی حال کی چی په جمهوري نظام او شوری کی داسی مشوری نه صرف جائز دي. بلکه دشوری ارکانو ته په دغه نظام کی دشریعت د مسترد کولو حق هم ورکړی شوی دی .

**جمهوريت** : په دغه جمهوري شورى کى چى دشورى دارکانو ترمنځ څه اختلاف پيداشي نودوى په دغه اختلاف کى بياقرآن او حديث طرف ته رجوع نه کوي او نه هغه شى ته حق وايى چى هغه دقرآن او حديث په دليل سره ثابت شوى وي، بلکه دوى بيادغه طاغوتي مجلس شورى او مجلس قانون ساز ته رجوع کوي دهمدغې په ذريعه دغه اختلاف دلرى کولو کوشش کوي، ووټونه اوراى ګيرى کوي او کومه خبره چى اکثريت پاس کړي او حق ورته ووايي نو هغه بياحق ګڼل کيږي اګرکه هغه دشريعت خلاف وي.

(**٨**) **اسلام** : الله فرمايى :

﴿ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾ [النساء٥٩].

(( نوکه اختلاف وکړو تاسوپه څه شي کى نو واپس کړئ هغه الله اورسول ته ( يعنى دالله خبرې قرآن ته او درسول خبرې حديث ته ) که چيرته ايمان ساتئ په الله اوپه ورځې دآخرت ، دادخير کارهم دى او انجام يى هم ښه دى)).

الله فرمايى : ﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ﴾ [ التوبة: ٣٣].

(( الله هغه ذات دی چی رالیږلی یی دی خپل رسول صلی‌الله علیه وسلم له هدایت اوحق دین سره دی لپاره چې دغه (حق دین) په ټولو ادیانو باندی غالب کړي )).

﴿فماذا بَعْدَالحقِّ إلاَّ ضَلالَ﴾ [سوره یونس] یعنی ددغه حق نه علاوه هرڅه غلط او باطل دي .

﴿إِنْ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ﴾ [الأنعام٥٧] .

(( نشته حکم ( فیصله اوقانون ) مګر دالله دی (الله) حق بیانوي او هغه ډیر ښه دی دفیصلې کوونکونه )).

مګرپه جمهوریت کی دحق اوباطل معیار دعوامو اود عوامي نمایندګانو اکثریت دی .

او الله فرمایي:

﴿وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾ [الأنعام : ١١٦ ] .

که چیری داکثریت خبره دی ومنله نودالله له لارې نه به دی غلط کړي .

﴿قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ﴾ [المائدة: ١٠٠].

(( وواية چې نه دي برابر خبيثان او پاک اګرکه د خبيثانو کثرت تا خوشحالوي )) .

او الله فرمايي :

﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [البقرة٢٤٩].

ډير کرته لږ خلک غالب شويدي په ډيرو خلکو باندی دالله په حکم سره او الله صبر کوونکو سره دی.

﴿وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ﴾ [سبأ١٣].

(( اوزما له بنده ګانو نه لږ غوندی خلک شکر کوونکي دي )).

نبی صلی‌الله علیه وسلم فرمايي چې : مخکيني امتونه ماته پيش کړی شول... نو ماداسی نبی هم پکی وکتل چی له هغه سره يو کس وو. بخاری ومسلم .

يعنی دهغه نبي منونکی صرف يوکس وو او مخالف طرف ته ډير خلک وو؟؟؟.

علامه اقبال وايي : جمهوريت داسې طرز حکومت دی : (( جس مين ادمی گنے جاتے هين تولے نهين جاتے )). خلک پکی شمارل کيږي خو تلل کيږي نه .

**جمهوريت** : په جمهوري نظام کی عالم او جاهل برابر دي.

**(۹)اسلام** : اسلام کی دا دواړه نه دي برابر الله فرمايي : ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الزمر: ۹].

(( ووايه چی ايا برابر کيدی شي هغه کسان چی پوهيږي اوهغه کسان چی نه پوهيږي ))؟.

**جمهوريت** : جمهوريت کی سړي او ښځې يو برابردي.

**(۱۰) اسلام** : په اسلام کی سړي ته په ښځه يوه درجه فضيلت ورکړی شوی دی.الله فرمايي:﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾(البقرة۲۲۸).

(( اونارينه و ته په زنانه و باندی يوه درجه فضيلت دی، او الله زور آور او حکمت والا دی )).

**جمهوريت** : په دی کې ښځه هم د ملک حکمرانه جوړیدای شي .

(١١) **اسلام** : الله فرمايي : ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُوْنَ عَلَـى النِّسَاءِ﴾ .

(( نارينه په ښځو باندی حکمرانان دي )) .

او رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايي: ((لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّـوْا أَمْرَهُمْ اِمْرأَةً )). (رواه البخاری وأحمد والترمذی والنسـائی).

کوم قوم چې ښځه خپله حکمرانه جوړه کړي هغه قوم هيڅ کله نشي کاميابيدلې.

**جمهوريت** : په دی کې مومن او فاسق،پرهيزگار او گنهگار، کـافراو مسـلمان يـو برابـر دي. پـارليمنټ او حکومـت لپـاره د نمائنـدگانو ټـاکلو والا ووټـران هـم، او حاکمـان نمايندگان اود جمهوری شوری ارکان هم ټول يو برابردي.

(١٢) **اسلام** : الله فرمايي: ﴿أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ﴾ [السجدة١٨] .

(( ايا نو هغه څوک چې وي مؤمن پشـان دهغـه چاکيـدی شي چې وي فاسق، دوی نه شي برابر کيدی )) .

﴿أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴾ [ص٢٨] .

(( ايا گرزوو به مونږ پرهيزگاران پشان دګنهګارانو)) .

﴿ أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ﴾ [القلم٣٥] .

(( ايـا گرځـوو بـه مونـږ مسـلمانان پشـان د مجرمـانو (كـافرانو تاسوباندی څه جل شوی دی، څنګه فبصلې كوئ تاسو)).

**جمهوريت** : په جمهوريت کی خپل انفرادي ژوند له پاره هرچاته اجازت دی چی څوک هر مذهب اختياروي اختيارولی شي كه څوک يهـودي كيـږي يـا نصـراني كيـږي، هنـدو كيـږي كـه د بُـت پرسـتی مـذهب اختيـاروي يـا مسـلمان كيـږي او صـرف انفـرادي ژونـدلپاره اسلام اختياروي وغيره وغره ځکه چی ددوی جمهوری دين په نظام کی دغه ټول مذاهب برابردي .

(١٣) **اسلام** : دالله په نزد د اسلام نـه عـلاوه ټول مـذاهب باطـل دي او ددغه مذاهبو اختيارولو والا كافر دی. الله فرمايی :

﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴾

(( يقيناً (حق اوقبول ) دين د الله په نزد اسلام دی )).

﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنْ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران٨٥].

(( او څوک چې له اسلام نه علاوه بل دین وغواړي نو هرګز به قبول نه کړی شي دده نه هغه ( دین ) او دا به په آخرت کی دنقصان والاؤ نه وي .

اونبی صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : (( مَـــنِ ارْتَدَّ عن دینه فاقتلوه)).رواه الطـــبرانی عن بن مالك والبخاری عـــن ابـــن عباس.

(( څوک چې مُرتد شي ( یعنی واوړي ) له خپل دین (اسلام) نه نو هغه قتل کړئ )).

**جمهوریت** : په جمهوریت کی هغه ټول شیان حلال او جائزدي چې په اسلام کی حرام وي او هغه ټولو سزاګانو ته جمهوریت او جمهوریان ظلم اوبی انصافی وایی چی کومی سزاګانې الله اود هغه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم مقرر کړیدي. مثلاً داسلام نه ارتداد، شرک، زنا بالرضا، نشې تماشې وغیره دغه ټول شیان په جمهوریت کی حرام نه دي یعنی په دی باندی په جمهوري قانون کی سزانشته.

(۱۴) **اسلام** : په دی خبره دټول امت اجماع ده چی څوک دالله اودهغه درسول حرام کړی شوی څیزته حرام نه وایی نوهغه کافر دی. الله فرمایي :

﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ﴾ [ الــتوبة : ٢٩ ].

(( جنګ وکړئ له هغو کسانو سره چې ایمان نه راوړي په الله او نه په ورځ د آخرت او نه حرام ګڼي هغه شیانو لره چې الله اودهغه رسول صلی‌الله علیه وسلم حرام کړي دي )).

الله داد کافرو عادت ګرځولی دی :

﴿ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ [التوبة٣٧].

(( نو حلالوي دوی هغه شیانو لره چې حرام کړیدي الله، ښایسته کړي شــویــدي دوی ته خپل بدعملونه الله هدایت نه کوي (داسی ) کافرقوم ته )).

**جمهوریت** : پـه جمهوریـت کـې ټـول قـوانین برابـر دي مـثلاً دجمهوریت په نظر کی انګریزي قـانون او اسلامی قـانون یـو برابـر دی ، پس کوم قانون چی اکثریت پاس کړي نو هغه قانون به دملک قانون ګرځي، اګرچی جمهوریت انګریزي قانون دی.

(**۱۵**) **اسلام** : دالله پـه نـزد اسـلام اولـه خپـل حکـم او قـانون نـه علاوه ټول قوانین باطل او دجاهلیت دي . الله فرمایي :

﴿ إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴾ . او الله فرمايي :

(( بيشکه دين دالله په نزد اسلام دی )).

او الله فرمايي :

﴿ومن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنْ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران٨٥].

(( هرڅوک چې داسلام له دين نه علاوه بل دين ولټوي نو هرګز به ترينه قبول نکړی شي او هغه په په آخرت کی له تاوانيانو څخه وي )).

او الله فرمايي :

﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ ﴾ [ النساء: ١٢٥].

(( او څوک ډېر ښه دی ددين په لحاظ سره دهغه چانه چی تسليم شی الله ته )).

يعنی څوک چې دالله قانون ته تسليم شي دهغه نه ښه دين دهيڅچا هم نشته اوپه دليل د: ﴿ مَاكَان ليأخذ أخاه فــي دين الـملك ﴾ .

دين قانون او نظام ته هم وايي .

او الله فرمايي :

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ مِنْ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾[المائدة ۵۰].

(( او څوک دی ډیرښه دالله نه د حکم په لحاظ سره (یعنی قانون جوړولو کې ) دپاره دداسې خلکو چې یقین کوي )).

یعنې دیقین والاؤ دپاره دالله قانون نه ښه قانون بل نشته.

ددغه ټول بحث خلاصه داده چې په جمهوریت کی حاکم اعلی الله نه دی بلکه عوام د عوامو نمایندګان او ددوی اکثریت اعلی حاکم دی ، اوپه دی کی د اسلامي ممالکو او مغربي ممالکو ترمنځ فرق نشته، او دواړه برابر دي، یعنی اسلامي او غیر اسلامي ممالکو کی داکثریت خبری منل کیږي. اکثریت چی کوم قانون پاس کړي دهغه منل او اکثریت چی هرڅوک منتخب کړي هغه خپل مشر منل د اسلامي ممالکو په جمهوریت کی هم قانوني حیثیت لري او غیر اسلامي ممالکو کی هم...

صرف اسلامی ممالکو کی د دوکې لپاره یعنی عامو خلکو او ((علماو)) ته دوکې ورکولو لپاره دځه نومونو دبدلولو کوشش کړی دی. مثلاً دوی وایی چې پارلیمنټ په اصل کی مجلس شوری دی مونږ ددی ځواب مخکی کړی دی چی بالکل دامجلس شوری دی خو جمهوري ،کفري او طاغوتي مجلس شوری دی، نه اسلامی مجلس شوری ولې چی اسلامی مجلس شوری کی داشرط دی چی مشوره به په هغو شیانو کی کیږي چی هغه څیزونه دشوری ارکانوته دقرآن او حدیث نه نه وي معلوم. (۲) دویم شرط دادی چی

دشوری ارکان به مسلمان، امانت دار، پرهیزګار او غیر فاسق وي.(۳) دریم شرط دادی چی دشوری ارکان به علماء وي اوپه هغو ټولو شیانو کی به ماهران وي چی کوم څیزونه په دغه شوری کی تربحث لاندی رازي. اودغه دری واړه شرطونه د اسلامي ممالکو جمهوریتونو کی نشته. نوصرف نوم بدلولو سره کارنه کیږي. (( يُسَمُّوْنَهَا بغير اسْمِهَا )) (بخاری) او ددی دری واړو شرطونو دلائل مخکی تفصیل سره تیر شوي دي . او دوی وایی چی زمونږ په آئین کی لیکلي دي چی حاکم اعلیٰ به الله وي. مونږ وایو چی لیکلو سره کارنه کیږي ځکه چی ستاسو په جمهوریت کی عملاً اوعقیدتاً دحاکم اعلیٰ حیثیت عوامو او دهغوی اکثریت ته حاصل دی. الله فرمایی : پارټیانې مه جوړوئ، خوستاسی (( اسلامی )) جمهوریت وایی : پارټیانے جوړول فرض دي . دالله رسول صلى الله عليه وسلم فرمایی: امارت ، مشري وزارت او بله کومه عهده مه غواړئ، اوستاسی(( اسلامی)) جمهوریت وایی چی داخو یو لازمي شی دی خوامخا به عُهده غواړي. الله وایی چی : که نه پوهیږئ نوله امانت دارو علماونه تپوس وکړئ، او ستاسی ((اسلامی)) جمهوریت وایی چی څوک منتخب کوئ نوضرور به د ملک دټولو بالغو عوامونه تپوس کوئ اګرچی هغوی جاهلان، فاسقان اوکافران وي. الله فرمایی چی امیر، مشر او حاکم به هغه څوک جوړیږي چی دهغه عقیده اوعمل دالله خوښ وي، عالم او ماهر وي، جسم یې برابر اوبا همت وي. ستاسو ((اسلامی)) جمهوریت وایی چی مشر او حاکم له دغه شرطونو نه علاوه هم جوړیدی شي ستاسو په

جمهوریت کی هغه شرطونه هم کافی دي چی دامریکی او یورپ اودکافرو شرائط دي. داسلامی مجلس شوری دپاره داشرط دی چی دشوری ارکان به علماء اوماهران وي، مسلمانان امانت دار اوپرهیزگاران به وي، مشوره به په داسی امورو کی کوئ چی هغه دقرآن، حدیث او اجماع نه په وضاحت سره نه وي ثابت اوچی کله بیا په داسی شیانو کی مشوره کوئ چی هغه په صراحت سره ثابت نه وي نوبیابه دغه مشوره هم داسلامی اصولو او د صحیح قیاس په مطابق کیږي، اوستاسو ((اسلامی)) جمهوریت اوطاغوتي مشورې او پارلیمنټ کی دغه شرایط نشته. ستاسی جمهوریت کی دکافرو شرطونه کافي دي . په اسلام کی دالله یادهغه درسول الله صلی الله علیه وسلم حکم چی موجود وي دبل چا مخالف حکم باندې عمل کول اودبل چاحکم منل جائز گڼل کفردی، خوستاسی جمهوریت اوپارلیمنټ کی ددی جواز نشته په پارلمینټ کی هرڅوک دالله او درسول د حکم خلاف قانون پیش کولی شي اوهغه دپاره دایو جائز کاردی، دالله اودهغه درسول حکم دالله په نیزد قانون دی چاته دهغه د منظورۍ دپاره د پیش کولو ضرورت نشته خو ستاسی جمهوریت کی دالله اورسول حکم قانون نه دی اوهغه دنورو باطلو قوانینو په شان دعوامو نمائندگانو ته دمنظوري دپاره پیش کول واجب او فرض دي .

الله وایی : که چیرته ستاسو په منځ کی اختلاف راشي نوپه الله او رسول یعنی په قرآن او حدیث سره یی لری کړئ، خوستاسی ((اسلامی)) جمهوریت وایی: د آراو په اکثریت سره یې لری کړئ،

الله جل جلاله وايي : عالم او جاهل برابر نه دي، خو ستاسو ((اسلامي )) جمهوريت کي برابر دي. الله وايي : مؤمن او فاسق، پرهيزګار او ګنهګار، ښځه او سړی، کافر او مسلمان، اسلام او کفر برابرنه دي، جمهوريت وايي داټول پخپل مينځ کي برابردي.

الله فرمايي : إِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ((نشته حکم او قانون مګرداللّه دی )) . مګر ستاسی (( اسلامی )) جمهوريت وايي : حکم او قانون داکثريت دی، حال داچی مخکې ايت تيرشو چی الله فرمايي : که چيرې داکثريت خبره دی ومنله نوګمراه به دی کړي او الله فرمايي :
﴿وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الْكَافِرُونَ﴾. [المائدة ٤٤] .

(( څوک چې فيصله وه نه کړي په هغه (قانون) باندی چی الله نازل کړی دی نو دغه کسان هم دوی کافران دي )).

هم دوی ظالمان دي، هم دوی فاسقان دي اودجاهليت په قانون روان دي. جمهوريت د الله قانون نه دی دانسانانو جوړ کړی قانون دی دغه قانون او همدا رنګه د اسلامي ممالکو په عدالتونو کی رائج انګريزي قانون دوی صرف جائز نه بلکه فرض يی ګڼي که چاددغه قوانينو مخالفت وکړو هغه ته سزا ورکوي اوس زه له تاسونه تپوس کوم چی د آيين په کاغذ کی دليکلي ((حاکم اعلی)) څه حيثيت ددغه ((اسلامی)) ممالکو په جمهوريت کی پاتی کيږي ؟ يعنی چی کوم څه دامريکی أو يورپ په جمهوريت کی دي

،هماغه کفریات ددغو (( اسلامی )) ممالکو په جمهوریت کی هم دي نو ایا ددی باوجود دوی الله او بیا مسلمانانو ته په آئین کی لیکلی شوی ((حاکم)) اعلی په الفاظو سره دوکه ورکولی شي. ﴿وما يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ﴾ [البقرة۹]. دوی صرف خپل ځان ته دوکه ورکوي خو پوهيږي نه.

که دوی وایی چی مونږ په لمونځ، روژه او حج کی الله ((حاکم اعلی)) منو نو ددی مطلب دادی چی دوی صرف په انفرادي ژوند کی دالله حکم مني اوپه اجتماعیت. سیاست او حکومت کی ددی ((حاکم اعلی)) اقوام متحده. جمهوریت او اکثریت دی.

اقبال وایی : جلالی پادشاهی هو که جمهوری تماشا هو جدا هو دین سیاست سے توره جاتی هے چنگیزی.

یعنی لکه څنګه چی چنګیزخان په انفرادي ژوند کی هرچاته دخپلی مرضی اجازت ورکړی و چی دخپلې خوښې کوم مذهب اختیارکړی خوقانون ،سیاست او حکومت به هغه ، صرف د (( یاسا )) یا ((یاسق)) مطابق چلوو، هم دارنګه جمهوریت هم دی چی ددی اصل بنیاد په سیکولرزم باندی قائم دی په جمهوریت کی هم دین له سیاست نه جدادی.

نودغه جمهوریان بیاد یهودو په لار روان دي، یهودو هم دالله ددین یوه حصه منله او بله حصه یې نه منله او دوی هم ددین

انفرادي حصه مني خو سياسي ، اجتماعي او حکومتي حصه یی نه مني الله فرمایی :

﴿ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ۝ أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴾ [البقرة٨٥_٨٦].

(( ایا نو منئ تاسو یوه حصه دکتاب ( دالله تعالی) اوانکار کوئ دبلی حصے (دکتاب..) نه؟ نوتاسو ( مسلمانانو ) نه که چاداسی کار وکړو دهغه سزابه ددنیا ژوند کی شرمندګی وي اودقیامت په ورځ به دوی سخت عذاب طرف ته واپس کولی شي ، او الله ستاسو له عملونو نه غافل نه دی، داهغه کسان دي چی دوی ددنیا ژوند په آخرت باندی غوره کړی دی نو له دوی نه به نه عذاب سپک کولی شي اونه به ددوی مدد کولی شي)).

او الله جل جلاله فرمایی:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا

أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ [النساء٦٠].

(( ايا تاهغه کسانو ته کتلی دي چی دعوی کوي چی دوی ایمان راوړی دی په هغه شي چی نازل کړی شوی دی تاته اوپه هغه شي چی نازل کړی شوی دی تانه مخکی ( خوبیاهم) دوی غواړي چی فیصله په طاغوت وکړي حال داچی دوی ته د طاغوت نه دانکار کولو حکم شوی دی اوشیطان غواړي چی دوی په لری ګمراهۍ سره ګمراه کړي )).

له آیت نه معلومه شوه چې کله ته دالله دقانون اوشریعت نه علاوه بل قانون منی (یعنی طاغوت منی ) اوپه هغه فیصلې کوی نوستاد ایمان دعوی دروغ ده، ته بیا شیطان دسیدی لاری نه ډیرلری کړی یی. بلکه ته بیاپه شرک کی مبتلایی ځکه چی الله هم حاکم منی (یعنی په انفرادي ژوند کی) او غیر الله (دعوامو اکثریت ) هم حاکم منی (یعنی په سیاسي اوقانوني ژوند کی ) الله فرمایی :

﴿وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا﴾ [الكهف٢٦].

(( او ( الله ) نه شریکوي په خپل حکم ( اوقانون ) کی هیڅوک هم.

الله جل جلاله فرمایی :

﴿وَلَا تَكُونُوا مِنْ الْمُشْرِكِينَ ۝ .مِنْ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا ﴾ [ الروم : ۳۱- ۳۲ ].

(( اومه کیږئ دمشرکانونه (یعنی) دهغه کسانونه چی خپل دین یې جدا جدا کړي دي او فرقې فرقې شوي دي.

**تنبیه**: له اسلام سره چی دجمهوریت کوم مخالفت مونږ دقرآن او حدیث د دلائلو په رڼا کی ولیکلو، په هغه کی ځینې داسی مخالفتونه هم شته چی هر څوک دا مخالفت وکړي کافر کیږي نه، لیکن همدغه مخالفتونه چی کله څوک دجمهوریت په منلوسره وکړي نوکه چیری څه موانع نه وي نوبیاهغی سره سړی کافر کیږي. وجه داده چی دجمهوریت په منلو سره صرف د اسلام مخالفت نه بلکه دجمهوریت په منلو سره داسلام مخالفت جائز او فرض ګڼل کیږي ولی چی څوک اکثریت له خوا د پاس کړی شوي قانون مخالفت وکړي یاد اکثریت ووټونو سره د (( کامیاب)) وزیر له وزارت نه څوک انکار وکړي نو هغه ته سزا ورکول کیږي.

داسلامی ممالکو د جمهوریت یو لوی مصیبت داهم دی چی دوی داقوام متحده ټول قوانین مني حال داچی اقوام متحده ددنیا یولوی طاغوت دی، ددغه لوی طاغوت خپل قوانین دي، خوپه قانون ،سیاست او حکومت کی به یو دین اومذهب هم څه کار نه

لري، نه اسلام اونه بل مذهب او دين. دحکومت چلولو دپاره دغه لوی طاغوت خپل دين او قوانين جوړ کړي دي.

داسلامی ممالکو جمهوريت او جمهوريت غوښتونکی داقوام متحده دغه قوانين مني او په دغو قوانينو باندی يی ايمان دی اود جمهوريت په منلو سره د اقوام متحده قوانينو منل لازم کيږي، ددی يودليل دادی چی د جمهوريت دنافذولو اصل مطالبه ددغه اقوام متحده له طرف نه ده، نو څوک چی جمهوريت مني هغه په حقيقت کی داقوام متحده قانون مني. دويم دليل يی دادی چی داقوام متحده ځيني قوانين داسی دي چی که چيری يو ملک اګرکه هغه اسلامی ملک وي ددغه قوانينو نه ديو قانون مخالفت وکړي که څه هم دهغه مخالفت په اسلام کی جائز بلکه فرض وي نوبياپه دغه ملک باندی داقوام متحده له طرف نه اقتصادی وغيره پابندياني اوبنديزونه لګيږي . اسلامي جمهوری ملکونو باندی هم ددی منل ضروريدي.

نو معلومه شوه چی ددوی په آئين کی چی کوم داليکلي دي چی ((حاکم اعلی الله دی )) خود الله حکم ته ادنی حاکم هومره هم درجه نه ورکوي، دا داسی دی لکه دعربو مشرکانو به الله (( حاکم اعلی)) مانه دهغه نور ډير صفتونه يی هم منل خو عبادت يی دغيرالله کولو او قانون يی دپلار او نيکه منلو. هم دارنګه يهودو او نصاری و هم ((حاکم اعلی)) الله مانه، اخرت يی هم منلو اود الله ډير صفتونه او حکمونه يی هم منل خودی سره سره يی عزير عليه

السلام او عیسی علیه السلام یی لـه الله سره شریکول او خپل علماء او پیرانو ته یی دتحلیل ، تحریم اودقانون جوړولو حق ورکړی و. دغو دواړو ډلو الله د ((حاکم اعلی)) منلو باوجود نه کفرنه بچ کړل، نه یی دنبی صلی‌الله علیه وسلم له توری او جنګ نه بچ کړل اونه له جهنم نه بچ شول . نو اوس دغه جمهوریانو ته پکاردي چی په دغه آئینه کی دی خپل ځانونه وګوري... ځکه چی د (( حاکم اعلی )) معنی خو داده چی دهغه حکم دهر چا دحکم نه اعلی او اوچت وي، که بیاد هغه حکم او قانون داکثریت منظور کولو ته محتاج وګڼل شي نوبیا اګرچی تاد آئین په کاغذ کی دالیکلي وي چی : (( حاکم اعلی )) به الله وي، خوبه حقیقت کی تاهغه ادنی حاکم ګڼلی دی .

داپه یاد وساتئ چی آئین کی یعنی خاص طور باندی دپاکستان وغیره اسلامی ممالکو آئین کی همداسی شیقونه شته چی په هغو کی لیکلي ((اصول)) ددغه (( حاکم اعلی )) والا له اصل نه مخالف دی او ددغه اصل نفی کوي. خو هغی ته مراجعت به تاسوته مشکل شي په دی وجه مونږ کوشش کړی دی چی تاسوته دجمهوریت داسی خرابیانی بیان کړو چی هغه په غوږونو هم آوریدی شي اوپه سترګو یی هم هرڅوک ګوري، که چیری کتل غواړي. داهم په یاد وساتئ چی مونږ جمهوریت اوله جمهوریانو نه دا شکایت نه کوو چی دوی دشریعت بیل ولی نه پاس کوي ځکه چی ددی شکایت مطلب به داوي چی مونږ شریعت د جمهوریت او اکثریت محتاج ګڼو، اوتاسو چی کله دارنګ شکایتونه له ((مُلایانو)) نه واورئ نو

دجمهوريت له حقيقت نه دناخبري په وجه بيا تاسو د اګمان کوئ چې ګنی دوی ډير حق پرست دي. حال داچې داحق پرستي نه ده بلکه داپه دی وجه کوي چې دوی جمهوريت او اکثريت خپل حاکم اعلی ګڼي.

له دی ځای نه موږ دالله په مدد سره دهغه شبهاتو ځوابونه کوو کوم چې د جمهوري (( مُلايانو)) له طرف نه پيش کولی شي اوساده خلکو ته پری دوکه ورکوي...

**لومړۍ شبهه** : زمونږ په آئين کی داليکلي دي چې : (( حاکمْ اعلی الله دی)) .

(ځواب) بِعون الوهّاب: تاسوته دامعلومه ده چې د حاکم اعلی معنی داده چې دهغه حکم به دتمام مخلوق په حکم او قانون باندی اعلی او اوچت وي ، که داسی نه وي نو بيا په الله پوری استهزاء اوټوقې دي. تاسو په تيرشوی بحث کی داوکتل چې د جمهوريت دمنلو مطلب دادی چې دعوامو اکثريت به حاکم اعلی مني چې په هرشی کی به دعوامو داکثريت حکم دالله په حکم اوقانون اوچت ګڼي که چيرته داسی ونه کړي نوبياته د پارليمنټ رکن نشی جوړيدی اوکوم جمهوريان که هغه (ملا) وي يابل څوک چې څوک ددوی نه دپارليمنټ ارکان جوړ شوی دي هغوی ټولو د اکثريت حاکميت منلی دی اوبه دی يی سوګند هم اوچت کړی دی اودا داسی سوګند دی چې ګويا دوی په قرآن باندی دقرآن دنه منلو قسم

کوي. نو ددی ځواب مخکی شوی دی په دی وجه پدی اکتفا کوو.
خو دومره خبره په یاد وساتئ چی الله داسی نه دي ویلي : لَيْسَ الْحَاكِمُ إلاالله. دالله نه علاوه بل حاکم نشته. بلکه داسی یی ویلی دي: (( إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ اللّه )) (( چی نشته حکم او قانون مګر دالله )) . یعنی الله چی دکوم شي نفی کړیده دوی دهغه شي اثبات کوي .

**دویمه شبهه** : زمونږ دغه جمهوریت په حقیقت کی شوری دی.

**الجواب بعون الوهاب**: ددی ځواب هم مخکی شوی دی چی صحیح ده شورای خو ده مګر طاغوتي اوکفري شوری ده نه اسلامي شوری ځکه چی په اسلامی شوری کی کوم شرایط دی هغه ستاسو په دغه جمهوري شوری کی نشته. دغه جمهوری شوری ته جمهوریت دهغه حاکمیت حق ورکړی دی چی هغه صرف دالله حق دی.

**دریمه شبهه** : په جمهوریت کی ځنې حقې خبرې هم شته.

**الجواب بعون الوهاب** : مونږ وایو چی یهودیت او نصرانیت هم صرف په دی وجه باطل نه دی چی د دوی په دین کی ټولې خبرې باطلی دي بلکی ځنې ښې.خبرې خو ددوی په دین کی هم شته مګر د ځینو خبرو د حقانیت په وجه د دوی یهودیت او

نصرانيت حق نشي کيدی همدارنګه جمهوريت هم د ځينو خبرو دحقانيت په وجه حق نشي کيدی.

الله فرمايي :

﴿ إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴾ ( يقيناً (قبول او حق ) دين دالله په نيزد اسلام دی .

اسلام کامل اومکمل دين دی : ﴿ اَلْيَوْمَ أكملْتُ لكم دينكُمْ﴾ (( نن ورځ کامل کړو ما ستاسو دپاره دين ستاسو)). الله مونږ ته حکم کړی دی چې داسلام په دغه کامل دين کی پوره پوره ور داخل شئ انفرادي لحاظ سره هم، اجتماعي سياسي، قانوني او حکومتی لحاظ سره هم، په هر لحاظ سره په دغه کامل دين کې داخل شئ که چيری ددغه دين نه مونږ په کوم لحاظ سره باهر (جمهوريت وغيره ) کی قدم کښېږدو نو دغه قدم به دشيطان په لاره کی وي اودشيطان لاره د آخرت نقصان او جهنم طرف ته تللی ده. الله فرمايي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾ [البقرة۲۰۸].

(( ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی داخل شئ په اسلام کی پوره پوره اودشيطان قدمونو پسی مه روانيږئ، يقيناً هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنْ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران ۸۵].

(( اوڅوک چې له اسلام نه علاوه بل دین وغواړي نو نه به شي قبلولی اوپه اخرت کی به له تاوانیانو څخه وي.

... نو ددې شبهې هم څه حقیقت نشته.

**څلورمه شبهه** : جمهوري (( ملایان)) وایی چی : مونږ دجمهوریت په دغی طریقې اوپارلیمنټ ته د داخلیدو په ذریعه په ملک کی شریعت نافذوو.

**الجواب بعون الوهاب** : دوی دغه جمهوري طریقې سره ((شریعت)) نه شي نافذولی ددی څو وجې دي (۱) اوله وجه داچی په پارلیمنټ کی اکثر دشریعت غوښتلو والا خلک لږ وي او ددی وجه داده چی په ملک کی دارنګ عوام لږ وي چی شریعت غواړي. نود ((شریعت)) نفاذ ته به ووټونه کم اچول کیږي او جمهوریت کی چی کوم قانون ته کم ووټونه ملاووشي هغه نه نافذ کیږي. که بیا هم زیات ووټ ورته ملاو شي نو (۲) دوی د جمهوري نظام مطابق ددی مکلف دي چی دوی به د ((شریعت)) د نفاذ اعلان صرف پنځو کالو دپاره کوي دپنځو کالو نه وروسته که د (( شریعت)) مخالف قانون ته ووټ زیات شو نو بیاپر دوی باندی ددغه جمهوري نظام مطابق خاموشي فرض ده ځکه چی دوی حلف اوچت کړی اوقسم یی کړی

دی د خاموشي مطلب دادی چی دوی داکثریت له خوا له پاس کړی شوي قانون نه انکارنشي کولی اګرچی دګیلې اوشکوې په صورت کی ، جمهوریت ورته د ساده عوامو د دوکه کولو دپاره د جلسو جلوسونو او مظاهرو کولو اجازت ورکړی‌دی او دوی یی کوي. خودا مشهوره ده چی ګیلې شکوې خلک له خپلونه کوي. دوی دغه جمهوري نظام خپل ګڼي نو ځکه شکایت ورنه کوي، او جمهوریت په دغه شکایت خوشحالیږي ځکه چې داد جمهوریت حصه ده.

(۳) که دغه جمهوری طریقې سره دوی (( شریعت )) نافذ هم کړي داد الله په نزد شریعت نه دی ځکه چی په شریعت کی له ټولونه اول ( لا اله ) او بیا ((الا الله )) دی یعنی د ټولو نه اول به ته دطاغوت ، دغیرالله د حاکمیت اود اکثریت له حکمرانی. او با لا دستې نه انکار کوی بیابه الله جل جلاله دهغه په کتاب دهغه په رسول اوپه صحیحو احادیثو باندی ایمان راوړی، که داسی دی وکړل نو تاشریعت ومنل، له دینه وروسته بیادشریعت دنفاذ لپاره دشریعت په طریقه کوشش کوه. الله فرمایي :

﴿ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى﴾ [ البقره: ۲۵۶].

(( چاچی انکار وکړو دطاغوت نه او ایمان یی راوړ په الله نو ونیوله هغه مضبوطه کړه (د شریعت ).

جمهوري ( ملا ) وغيره چې کله پارليمينټ ته داخليږي او جمهوري کيږي نو له ټولو نه اول په غيرالله يعنې په اکثريت د ايمان راوړلو او داکثريت د حاکميت منلو قسم خوري :

﴿وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ﴾ [النساء: ۶۰].

(( يعنې دوی هغه څوک مني چې له هغوی نه دوی ته د انکار کولو حکم شوی دی )).

دجمهوريت د منلو معنی دشريعت نه منل دي نفاذ خو به لا روسته کيږي... شريعت څوک مني اودچامنل الله ته قبول دي ؟ ددې ځواب الله جل جلاله نه واورئ: الله فرمايي : ﴿وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَنْ يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَى فَبَشِّرْ عِبَادِي﴾ [الزمر۱۷].

(( او هغه کسان چې د طاغوت له عبادت کولو نه ځان وساتي او الله ته رجوع شي نو دغه کسانو لپاره خوشحالي ده، نو زيرې ورکړه زمابنده ګانو ته)) .

او الله فرمايي :

﴿ فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ. وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا

لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾ [ هود: ۱۱۲-۱۱۳].

(( پس ( په شریعت اود اسلام په ین باندی ) کلک شه لکه څنګه چی تاته حکم شوی دی، او هغه څوک ( دی هم کلک شي ) چی تاسره ( الله طرف ته ) راګرځیدلی دی، او حدنه مه تیرېږئ، یقیناً هغه جل جلاله کتونکی دی هغو عملونو لره چی تاسو یی کوئ. اومه ککیږئ (میلان مه کوئ) هغه کسانو ته چی ظلم یی کړی دی ( که داسی مو وکړل ) نو اور به درته ورسیږي اوستاسو به دالله نه علاوه څوک دوستان نه وي بیابه ستاسو مدد هم نشي کیدلې)).

الله جل جلاله چی څه وفرمایل هغه تاسو واوریدل خو جمهوري ((مُلایان)) د اسلام او شریعت په ځای په جمهوریت کلک شوي دي. بار بار په ووټونو کی وهل خوري او بایلي، خو په جمهوریت باندی ددوی په کلکوالی او استقامت کی فرق نه راځي اود شریعت له حد نه دوی وتلي دي، الله فرمایي :

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظلمون﴾. [المائدة٤٥].

(( څوک چې فیصلې نه کوي په هغه (قانون) چی الله نازل کړی دی ( اواکثریت او دانګریز په قانون فیصلې کوي ) نو دغه کسان ظالمان دي )) .

الله دغو ظالمانو په طرف له میلان نه هم منع کړیده چې که دغو ظالمانو طرف ته دی میلان قدری هم وکړ نو اوربه درته ورسیږي او څوک به دی مدد نشي کولی. جمهوري ((مُلا)) کوږوالی او میلان خو لا پریږده ددغو ظالمانو کفري او طاغوتي قوانینو باندی سم ایمان راوړی دی او دایمان راوړلو قسم یی کړی دی.

او الله فرمایي:

﴿وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا ۝ إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا﴾[الاسراء: ۷۴_ ۷۵].

((که چیری مونږ ته ثابت قدم نه وی کړی (کلک کړی می نه وی) نو یقیناً نیزدی وه چې کوږ شوی به وی ته دوی طرف ته لږ غوندی په دغه وخت به (یعنی په کوم وخت چې ته دوی طرف ته لږ غوندی کوږ شوی وای په دغه وخت به) خامخا څکلی وی مونږ په تاباندی دوه چند (عذاب)د ژوند او دوه چند (عذاب) د مرګ بیابه نه وای موندلی تاخپل ځان دپاره زمونږ په خلاف څوک مددګار)).

له دی آیت نه یو خو دامعلوم شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کافرو طرف ته او د کافرو قوانینو طرف ته بالکل نه وو کوږ

شوی، که داسې شوی وای نو الله به ورته عذاب ورکول اوچه عذاب یې نه ورکړی نوصرف په دی وجه چې هغه کوږ شوی نه و، په دی کی عامو مسلمانانو له پاره اوبیا خاص طور باندی علماء دپاره عبرت او نمونه ده چې تاسو هم کافرو او ددوی دقوانینو په طرف میلان مه کوئ اګرچې په دی کی دینی مصلحت وي، الله په خپل دین باندی له مونږ نه زیات غیرت کوي اوپه مصلحتونو باندی له مونږ نه زیات پوهیږي، په دی وجه د ټولو نه لوی مصلحت دادی چې مونږ د عزیز اوحکیم الله په حکم باندی عمل وکړو، اونتائج هغه علیم او رحیم ذات ته پریږدو. بل په دی آیت کی داغور هم وکړه چې الله دکافرو دنظام اوقوانینو د خوښولو خبره نه دی کړی بلکې صرف د ((څه لږ غوندی کوږوالی)) خبره یې کړیده چې دغه ((لږ غوندی میلان)) به هم نه کوي که ودی کړو نو الله به دوه چنده او ډبل عذاب په دنیا او اخرت کی درکوي، او مددګار به دی هم څوک نه وي. اوپه دی خبره هم غور وکړه چې ددغه سختې خبرې اول مخاطب محمدصلی‌الله علیه وسلم وو چې دالله نبي ، رسول او خلیل و. (بخاري) .

بیاله دغه آیت نه وروسته آیتونو کی داخبره په وضاحت سره شوی ده چې کله ته ددغه کافرو قوانینو باندی عمل نه کوی نو دوی به ضرور تا دملک نه دویستلو کوششونه کوي خو ددی پروا مه کوه ولی چې دا دالله سنت دی اوپه پیغمبرانو کی هر پیغمبر له ملک نه ویستل شوی دی ( هم دغه خبره ورقه بن نوفل هم کړی وه وګوره صحیح بخاری کتاب بدء الوحی) نو دوی به تاضرور اوباسي خوته

د پنځه وخته لمونځ له پابندي سره سره د تهجد پابندي هم کوه الله به درته مقام محمود درکړي. کله چې تا یو ملک ته داخلوي نو دا دعا وغواړه: ای الله ! دادحق او صدق دپاره مې کړې اوکه له یو ملک نه دې خروج او وتل وی نو ووایه: ای الله دحق اوصدق دپاره مې کړې. اوراکړې ماته دخپل طرف نه دلیل او غلبه مدد کوونکې.

نوکه جمهوري ((مُلا)) وایی چې زه که جمهوري قوانین نه منم نوزه بیا پارلیمینټ کی نشم پاتی کیدلې نودغه پاسني دسوره بنی اسرائیل آیتونه ددغه ((مُلا)) ځواب دی. مونږ دانه وایو چې تابه له پارلیمینټ نه نه اوباسي ضرور به دې اُوباسي هرپیغمبر دخپل ملک نه او محمد صلی‌الله علیه وسلم دمکی نه ویستلی شوی و، مکه داسی ځای نه و چې نبی صلی‌الله علیه وسلم پکې غیرشرعي کارونو ته مجبوریدو. ستاپارلیمینټ خو داسی ځای دی چې ته پکی نه یواځې غیر شرعي کارونو ته مجبور یې بلکه تا په ډیرو کوششونو دغه غیر شرعي کارونو ته ځان په خپله مجبور کړی دی. نو دداسی ځای حکم خو دادی چې که تا نه اوباسي نو بیا هم ووزه. الله فرمايي :

﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ [الأنعام٦٨].

(( او کله چې ته وینې هغه کسان چې ( غلطې طریقې سره ) بحثونه کوي په آیتونو زمونږ کې نو واپس (لاړ) شه ددوی نه تردې پورې چې بحث شروع کړي دوی په بله خبره کې که بیایې درنه شیطان هیر کړي نومه کینه دیادیدلونه بعد له ظالمانو خلکوسره )).

اوپه سوره النساء کې الله جل جلاله فرمایي :

﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا﴾ [النساء۰ ۱٤۰].

(( او یقیناً نازل کړیدی الله په تاسو باندې په کتاب کې : چې کله واورئ تاسو آیتونه دالله چې کفر کیږي په هغې او ټوقې کیږي هغې پورې نومه کینئ دوی سره تردې چې بحث شروع کړي دوی په بله خبره کې، یقیناً (دوی سره چې تاسو کینئ ) نو په دې وخت کې تاسو هم ددوی غوندې یئ. یقیناً الله جمع کوونکی دی منافقانو او کافرانو ټولو لره په جهنم کې )).

که ته بیا دا وایې چې زه له دوی سره دشریعت د نافذولو دپاره کینم اودایو دیني مصلحت دی مونږ وایو چې نبي صلی الله علیه وسلم اودهغه صحابه رضی الله عنهم باندې ستاخه ګمان دی چې

هغوی له دغو ظالمانو سره ګپ شپ دپاره یاځه دنیاوي مصلحت دپاره کیناستیدل ؟ هغوی هم له دغو ظالمانو سره دیني مصلحت او دعوت دپاره کیناستل خو ددی باوجود الله په سختي سره منع کړل او له ظالمانو سره کیناستلو ته یی منافقت وویل. خودا یاد ساته چی دنبي صلی الله علیه وسلم د زمانی دظالمانو مجلسونه د پارلیمنټ اوپارلیمانی مجلسونو په شان نه وو، په هغو مجالسو کی لویه خرابي داوه چی منکر کارونه اومنکری خبرې پکې کیدی... اوستا جمهوري مجلس کی خوبه ته هله داخلیږی چی ددوی دمنکرو قوانینو ته قسم سره اقرار وکړی. نوداکار دمنافقت نه هم بدتردی .

اودغه جمهوري (( مُلا )) ته عرض دی چی ته د اپته خو ولګوه چې ایادشریعت نفاذ ستا ذمه واري ده؟ نه، ستا ذمه واري صرف نصیحت کول دي اوکه چیری بیاپه دغه نصیحت سره ته حرام کار بلکی په کفر کی واقع کیږی نوچی ته په هدایت وی نو ددغه خلکو ګمراهي تاته هیڅ ضرر نه رسوي الله دسوره انعام له دغه پاسني ایت نه وروسته فرمایي :

﴿وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِنْ شَيْءٍ وَلَكِنْ ذِكْرَى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ﴾ [الأنعام ٦٩].

(( او نشته په هغه کسانو باندی چی پرهیزګاري کوي ددغه (کافرو) له حساب نه څه شي بس صرف نصیحت کول دي )). امید دی چی دغه (کافران) ځان بچ کړي ( دکفرنه ))).

یعنی که مومنو پرهیزګارانو سره دکافرانو دګناهونو حساب کیدی چی ګناه به کافر کاو اوحساب به یې مومن ورکاو بو بیاخوکه کافرو په خپلو مجلسونو کی هرڅومره کفر کاو نو پرمومنانو باندی لازم و چی دغو کافرو ته دهدایت کولو دپاره دکافرو په مجلسونو کی ناست وي خو مومنانو باندی خو دوی ته صرف نصیحت کول دي، اول خو نصیحت دومره لوی فرض نه دی چی دهغه تکر دخپل ځان له اصلاح سره راشي، نوته دخپل ځان اصلاح هم نصیحت دپاره پریږدی ، دویم داچی کافروته نصیحت رسیدلی دی اوفرض اداشوی دی. امید دی که په دغه کافرو کی څوک نیک بخت وي هغوی ته به هدایت وشي که بیانه کیږي نو تاسو یی ذمه وار نه یئ. الله فرمایي :

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُم مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ [المائدة۱۰۵].

(( ای مؤمنانو تاسو باندی دخپل ځان ذمه واري ده، ضرر نه درکوي تاسوته هغه څوک چی ګمراه شوی دي چی کله هدایت شوی

وي تاسوته خاص الله ته ورګرځیدل ستاسو دي دټولو، نو خبروي به الله تاسو په هغه عملونو چې کوئ یې )).

جمهوري (( مُلایان )) داهم وایی چې :که مونږ پارلمینټ ته داخل نه شوو نو بیا به پارلیمینټ سیکولر خلکوته پاتی شي او دوی به خپلې مرضۍ سره چې کوم قوانین خوښ وي هغه به پاس کوي او ملک نه به سمه دفحاشۍ اودکفر اډه جوړه شي وغیره وغیره.

د دوی دغه شبهې مونږ په دریو طریقو باطلوو. ان شاء الله که دوی مخلص وي نو ان شاء الله د دوی به تشفی کیږي. ﴿ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي ﴾ [ البقـرة : ١٥٠].

الله فرمايي : (( مګرهغه کسان چې ظلم یې کړی دی نو دهغوی نه مه ویریږئ بلکې له مانه وویریږئ )).

نو اوله خبره داده چې په ملک کې کوم کفر اوفحاشي خوریږي نو دا واقعـي د درد او انـدیښنې خبـره ده او ددی ختمـول پکـار دي، خوکه چیری دغه کفر او فحاشي بیاپه کفر کولو او د طاغوت په منلو کمیږي نو ایا ددغه کفر اوفحاشي کمولو یا ختمولو لپاره مونږ ته په طاغوت باندی ایمان راوړلو اود الله دقانون نـه انکار کول جائزدي؟ حال داچې د جمهوریت منل د الله دقانون نه دانکار هم معنی دی او پارلیمینټ ته ننوتل بغیر دطاغوت منلو نه ناممکن دی. الله فرمايي :

﴿ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ [البقرة٤٤].

((آیا حکم کوئ خلکوته دنیکۍ اوهیروئ تاسو ځانونه خپل حال داچې تاسود ((الله د)) کتاب تلاوت کوئ آیا نوله عقل نه کار نه آخلئ تاسو)).

نو مونږ هم دنورو خلکو نه زیات په دغه کفر اوفحاشی اندیښمن یو خوپارلیمینټ ته ننوتلو ته مونږ د پاره مانع موجود دی چې هغه ددغه اندیښنې نه زیات اندیښمن دی.

ددغې (۵) شبهې ازالی دپاره دویمه خبره داده چې ته دخپلې ذمه وارۍ احساس وکړه ستادکامیابئ دار او مدار صرف په دی خبری دی چې ته خپله ذمه واري پوره کړی، له خپلې ذمه وارۍ نه چې زیات کار کوی نویو خوبیاله تانه خپله ذمه واري پاتی کیږي ځکه چې له تاسره څومره طاقت دی هغه صرف دومره دی چې ته ورسره خپله ذمه واري پوره کړې اوله تاسره چې کوم وخت دی هغه هم صرف دومره دی چې ته پکی خپله ذمه واري پور کړی اوچې څومره له تاسره دغه نعمتونه زیاتیږي هومره ستا خپله ذمه واري زیاتیږي، که بیاله تاسره ددینه څه شی زیات شي نو هغه بیا ستا ارام دپاره دی ولی چې داهم د انسان ضرورت دی. دویم ته به بیا دځان نه جوړه شوی اوبدعي طریقه اختیاروی ځکه چې الله کومه

طریقه نازله کړیده هغه تاته صرف په هغی ذمه واری کی کار درکوي چی کومه ستا خپله ذمه واري ده.

ستا خپل ذمه واري (( عَلَيْكُم أنفسكم )) یعنی تاسو باندی دخپل ځان اصلاح لازم ده. چی لومړی دخپلې عقیدې اود ایمان اصلاح کول دي چی عقیده او ایمان به دی دقرآن او حدیث مطابق وي اودصالحو سلفو له فهم سره به برابروي... چی په هغه کی دهری زمانی دغلطی عقیدې نه او دهری زمانې له طاغوت نه انکار په خاص طور باندی شامل وي.

الله فرمایی : فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى﴾ [ البقره: ۲۵۶]. ترجمه یی تیره شویده .

هم دارنګه په دی کی د (( عَقیدة الولاء )) ( یعنی دوستي) والبراء (یعنی دشمني اوبیزاري ) او محبت او بغض (یعنی کینه ) هم شامل وي یعنی دځان اصلاح دپاره به دقرآن او حدیث نه دولاء عقیده زده کوي او وربانذی ایمان به راوړي چی له الله سره دوستي او محبت به څنګه کوي او بیا د الله راضي کُولو دپاره دالله رسول صلی‌الله علیه وسلم ، اود اسلام له دین سره څنګه محبت کوي؟دچاچې له الله ، رسول او اسلام سره محبت وي اوپه دی یی

عمل وي نوهغوی سره به ښکه دوستي او محبت کوي. ﴿ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ﴾ . [الأنفال۷۳].

(( که چیرې تاسو داسې ونه کړل نو جوړه به شي په زمکه کې فتنه اولويې فساد )).

اوهم دارنګه به دقرآن او حدیث نه دبراء عقیده معلوموي او عمل به پرې کوي چې له کافرو دهغوی ملګرو منافقانو اودهغوی مذهب، دهغوی طور طریقو او دهغوی له قوانینو سره به ددښمنۍ څه طریقه وي؟

هم دارنګه عمل به دې هم دقرآن او صحیح احادیثو په مطابق جوړوي.

الله فرمايي:

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ .... يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا﴾ [النور:۵۵].

(( وعده کړیده الله هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی له ستاسونه او عمل یې کړی دی نیک (نیک عمل اخلاص او دپیغمبر په طریقې عمل ته وایی) چې ضرور به خلافت ورکوو مونږ

دوی ته په زمکه کې... ( خوپه دی شرط ) چی عبادت به کوي زما ( سره دتوحید ) اوشریک به نه جوړوی له ماسره هیڅ شی... )) .

داخو په دنیا کی دځان داصلاح بدله ده، اود آخرت په باره کی الله فرمايي:

﴿ وَبَشِّرْ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ .... هم فِيهَا خَالِدُونَ﴾ (البقرة۲۵) .

(( چې مؤمنانو اود نیکو عملونو والاؤ ته د جنتونو زیری ورکړه.... دوی به په دغه ( جنتونو ) کی همیشه وي )) .

خو دځان په اصلاح کی هم یوشی داسی دی چی هغه ډیر ضروری دی خوستا ذمه واري نه ده. مثلاً : په دین باندی عمل کوونکي خلک دوه قسمه دي :یو قسم هغه دی چی عمل خو کوي مګر په تکلیف سره، زړه یی نه غواړي چی عمل وکړي خوله الله نه ویریږي، قبر، قیامت جهنم او جنت یی دسترګو په وړاندی وي، او الله نه ورته شرم او حیاء رازي. نوپه دی وجه عمل کوي . دویم قسم هغه دي چی دالله او رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په حکمونو عمل په ډیر خوشحالی سره کوي اودغه دنیا کې په دین باندی دعمل کولو نه زیات شوق له بل شي سره نه وي. دادویمه درجه ډیره اوچته درجه ده، خوداستا ذمه واري نه ده، که تاته دغه درجه دمرګ نه مخکې حاصله نه شي نو الله دی پری نه نیسي. که بیا چیرې داته خپله ذمه واري وګڼی او ددی حاصلول شروع کړي نو ددی

دحاصلولو داسې لنډه طريقه الله نه ده نازله کړې چې ته به بيا تصوف طرف ته متوجه کيږي اود صوفيانو بدعي اودځان نه جوړ شوی د (( تزکيه)) نفس طريقې به اختياروي اودويم به خپله ذمه واري درنه پاتې شي لکه اکثر گمراه صوفياء يو طرف ته په شريعت عمل پرېږدي يعنې خپله ذمه واري پرېږدي بل طرف دوی دشريعت په مقابله کې يو نوی دين ايجاد اوله ځان نه يې جوړ کړی دی چې هغه ته (( طريقت )) وايې خو دا يادساته چې کوم شي دپاره دغه ((طريقت )) دوی ايجاد کړی دی هغه هم دوی ته نه حاصليږي.

اوس که څوک داسوال وکړي چې دغه شی نو بيا څنگه حاصليږي؟ ددی ځواب دادی چې ته په دغه اول قسم باندی عمل کوه يعنې که زړه دی نه غواړي هم په قرآن او حديث اوشريعت باندی دالله د ويرې په وجه... عمل کوه اخر کې ممکن دی چې ته دی درجې ته ورسيږې چې شريعت باندی په عمل کولو سره ستاپه زړه کې محبت اوشوق پيداشي. صحابه کرام رضی‌الله عنهم هم تر پنځلسو کالو يا شلو کالو پورې په شريعت باندی عمل وکړو نو دهغه نه روسته په مدينه کې په سوره حجرات کې ورته الله وفرمايل :

﴿ وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمْ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمْ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ ﴾ [ الحجرات : ۷].

(( لیکن الله محبوب کړو تاسو ته ایمان او ښایسته یی کړو هغه ستاسو په زړونو کی او منفور یی ګرځولی دی ستاسو لپاره کفر، ګناه او نافرماني)).

نو هغوی رضی‌الله عنهم کامیاب شول په دی وجه چی خپله ذمه واري یی هم پوره کړه یعنی په شریعت یی عمل وکړ اوبدو عادتونو کی هم مبتلاء نه شول الله ورته په شریعت باندی د عمل کولو په انعام کی دغه لویه درجه ورکړه چی دین ورته محبوب شو او له بی دیني نه یی نفرت پیداشو. روسته بیا الله داهم فرمایلی دي چی داد الله له طرف نه فضل وو په دوی باندی الله علیم او حکیم دی. (( واعبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يأتِيكَ الـيقين )) اودخپل رب عبادت کوه تر مرګه پوری.

اودخپل ځان نه علاوه د نورو خلکو د ذمه واری تقسیم الله اورسول صلی‌الله علیه وسلم په وضاحت سره مونږ ته کړی دی... په صحیح مسلم کی حدیث دی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي (( مَنْ رأى منكم منكراً فليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه فإن لم يستطع فبقلبه ...... )) چا چی وکتل له ستاسو نه کوم منکر (اوګناه کار) نوبدل دی کړي ( ختم دی کړي ) هغه په خپل لاس سره که چیرې طاقت یی نه وو نوبیادی په ژبې سره ( منع کړي ) اوکه چیری ددی وس نه درلود نو په زړه سره (یعنی زړه کی دی ورته بد ووایي او زړه کی دی اراده وکړي چی که وس می ورسي

نودغه منکربه زه ختموم ) . دمسلم په یو بل روایت کی دي چی له دینه بعد یو ذره برابر ایمان هم نه پاتی کیږي .

نودی حدیث مونږ ته تقسیمات وکړ چی که څوک حکومتي سطح باندی کفر، فحاشي او منکرات کوي یا یی انفرادي طور باندی کوي، چی هغه ته وګوري اوستاپه علم کی وي نویاخوبه دغه منکرات ته په زور سره ختمولی شي یعنی څه خلک به داسی وي چی ته به هغوی له ګناهونو نه په زوره منع کولی شی (۲) څه خلکو ته به ته صرف په ژبې سره حقه خبره کولی شې او څه خلک به داسی هم وي چی په څه وجه به دهغوی منکر کار ته په زړه کی صرف منکر او ګناه وایی.

هغه خلک چی پرهغوی باندی ستا زور چلیږي هغه په دوه قسمه دي : (۱) یو هغه کسان چې هغه ستا ماتحت دي (۲) بل هغه کسان دي چی ستاماتحت خو نه دي خوته یی تر څه حده پوری مقابله کولی شی.

داول قسم علاج به ته امر بالمعروف ، نهی عن المنکر ، درس، تدریس او ترغیب سره کوی او ددویم قسم علاج به جهاد وقتال سره کوی .

هغه څوک چی ستا ماتحت وي: اوشریعت نه مني یاعمل ورباندی نه کوي نو په دوی به په زوره شریعت نافذوی داستا ذمه واري ده، خو داستا ذمه واري نه ده چی زړونو ته یی هم ښکته کړی که د دوی زړونو باندی منل تا خپله ذمه واری وګرځوله نو

بیابه د دوی زړه ساتی او شریعت به وربانډی په زوره نه نافذکوی. نوپه دی سره یوطرف ته به دشریعت د نفاذ ذمه واړی درنه پاتی شي اوبل طرف ته به په دی وخت کی په داسی کار مبتلا شی چی په دغه وخت کی د هغه الله حکم نه دی کړی. ولی چی دالله دشریعت په نفاذ کی د چا د زړه ساتل نشته. ((خسرَالدَّنیا والاٰخرة )) کله چی وربانډی شریعت نافذ کړی نو بیا ورته د درس او تدریس، د ترغیب او ترهیب اوفضائلو بندوبست وکړه ، په دی کار سره به دنیک بختو خلکو زړونه شریعت ته تسلیم شي اوکوم چی بد بخت وي ته دهغوی ذمه وار نه یی. خلاصه داچی دداسی خلکوپر زړونو باندی دشریعت منلو لپاره ذریعه دشریعت د نفاذ پریښودل نه دي بلکی ترغیب، ترهیب درس او تدریس وغیره شرعي ذرائع دي، دی لپاره غیر شرعی ذریعې اختیارول ناجائز دي که ستا عقل هر څومره تاته ترغیب درکوي چی دشریعت په نفاذ کی سختی ده دخلکو به له تانه اوشریعت نه زړونه تور شي وغیره وغیره خو ته به دعقل او دخلکو له دی خبری نه نه متاثر کیږی، ستامخی ته به خپله ذمه واري وي او تاته پکارده چی ته دافکر وکړی چی علیم، حکیم او رحیم الله چی رما ذمه واری دشریعت نفاذ کرځولی ده نو بس په همدی کې ټولی فائدې او حکمتونه دي نور ددی نه علاوه ټول نقصان دی .

الله فرمایی :

﴿ ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ○. إِنَّهُمْ لَنْ يُغْنُوا عَنكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ○. هَذَا بَصَائِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ○. أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾ [ الجاثية: ١٨-٢١ ).

(( بيا مونږ وګرځولی ته په شريعت باندی ددين نه نو تابعداري وکړه ته دهغه (شريعت) او تابعداري مه کوه د خواهشاتو دهغو کسانو چی نه پوهيږي (دکوهي چيندخی دي صرف په دغه دنيا پوهيږي بس) يقيناً دوی تالره نه شي غني کولی دالله نه په هيڅ شي کې. او ظالمان ديوبل دوستان دي، او الله دوست دی دپرهيزګارانو. داد بصيرت پيداکولو والا (آيتونه) دی دپاره د خلکو او هدايت او رحمت دی دپاره دداسی خلکو چی يقين کوي ايا ګمان کړی دی هغو کسانو چی ګناهونه يی کړي دي چی ګرځوو به مونږ دوی لره په شان دهغو کسانو چی ايمان يی راوړی دی او عملونه يی کړيدي نيک (دشريعت او دسنت مطابق) داسی چی برابر به وي ژوند او مرګ د دوی؟ ډير بد دی هغه چی فيصله کوي دوی )).

په دغو آيتونو کې هغو خلکو دپاره ډير زبردست نصيحت او ورباندې رد دی چې څوک دشريعت په نفاذ کې دحکمت وغيره په بهانه رکاوټ او خنډجوړيږي په دې ځای کې داهم يادښاتئ چې د زور او طاقت د تړ لاسه کولو لپاره جمهوري طريقه اختيارول ناجائز دي اوداشرعي طريقه نه ده بلکه کفري وسيله او طريقه ده. او کله چې ستا زور نه رسيږي ياڅه خلک داسې وي چې په هغوی باندې ته شريعت په زوره نشې نافذولی او صرف ژبې سره هغوی ته دعوت ورکولی شې او تبليغ ورته کولی شې نو هغوی ته به دعوت ورکوې او تبليغ به ورته کوې خوسره ددغه شرايطو (۱) اول شرط دادی چې دعوت به دقرآن او حديث طرف ته وي.

﴿ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنْ النَّاسِ ﴾ [ المايدة : ٦٧ ].

(( تبليغ وکړه دهغه شي چې نازل کړی شوی دی تاته ستادرب له طرف نه که چيری ( د الله له طرف نه نازل دقرآن او حديث تبليغ دی ) ونه کړ نو بيا تا د الله درسالت تبليغ ونه کړ ( اودتبليغ ذمه واري دپوره نه کړه اوپه تبليغ باندې چې کوم فضائل دي ته بياد هغې مستحق نه يې که بياته ددغه حقې خبرې په تبليغ باندې له خلکونه ويريږي نو ) الله به دې ساتي دخلکو نه )). ( که بيا ته په دې ويريږې چې ددغه حقې خبرې تبليغ چې کوم نو خلکوته هسې نه چې هدايت ونه شي اودافکر کوې چې دابه د ((حکمت)) خلاف وي نوپه دې مه ويريږه د عليم اوحکيم الله تولې خبرې دحکمت دي، له خقې

خبرې سره نیک بختوته خو هدایت ضرور کیږي لیکن څوک چې په خپلې مرضی کفر خوښوي نو )). یقیناً الله داسی کافرو خلکو ته هدایت نه کوي. إن الله لایهدی القوم الکافرین. (المایدة: ٦٧].

الله په سوره بقره کی فرمایلی دي چې : څوک حق پټوي هغه باندی دالله لعنت دی اود لعنت کوونکو هم وربانـدی لعنت دی. او په مسند احمد ، سنن اربعه، او مستدرک حاکم و الکامل لابن عدی کی صحیح حدیث دی نبی صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : (( مَنْ كَتَمَ عِلْمًا عن أهله، أُلْجِمَ، يَوْمَ القيامةِ لِجَاماً مِن نَّارٍ )) دا الفاظ دابن عدی دي .

(( چاچې دعلم له حقدارو نه علم پټ کړو نو دقیامت په ورځ به ورته د اور لغام (قاعذه) واچولی شي )).

خو یاد ساته چې دعوت او تبلیغ کی به ستا مخی ته دوه خبرې راځي یو دحقی خبری تبلیغ کول دویم چاته چې ته تبلیغ کوی هغه ته هدایت کیدل.(١) دحقی خبری تبلیغ ستا ذمه واري ده، دابه ته صرف دی دپاره کوی چې الله ته بیا عذر پیش کولی شی چې ای الله ! ماخپله ذمه واري پوره کړیده.

او(٢) چاته چې ته دحق تبلیغ کوی دهغوی دهدایت امید به ته صرف له الله تعالی نه کوی :﴿مَعْذِرَةً إِلَى رَبِّكُمْ ولعلهم

يتَّقُوْن﴾ [سوره الاعراف]. (( د عذر پيش کولو دپاره ستاسو رب ته، او اميد دی چې دوی پرهيزګار شي )). نو دهدايت اميد به صرف دالله نه کوی :

﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ﴾ [القصص۵٦].

(( يقيناً هدايت نه شی کولی ته، هغه چاته چې ستاخوښ وي ليکن الله هدايت کوي هغه چاته چې ورته يې خوښه شي )).

الله فرمايی : (( لَيْس عَلَيْكَ هُداهُمْ )) (سوره البقره) (( نشته ذمه واری تاباندی هدايت ددوی )). (( وماعليك ألايزکی )). (( او ذمه واری نشته په تاباندی چې پاک نه شي هغه )) (( فإنما عليك البلاغ )) . ((اوتاباندی صرف د (حق) رسولو ذمه واري ده )) .

ليکن چې کله ته دخلکو د هدايت ذمه واري په خپل سرواخلی نو بيا به ته دهغوی زړه ساتی، حقه خبره به ورته نشی کولی ولی چې حقه خبره دهغوی زړه خفه کوي (( نو هسی نه چې متنفر شي اود ((جوړ)) په ځای (( توړ)) پيداشي. وغيره وغيره )). نوته په دی وخت کی بيايه ډيرو ګناهونو کی مبتلا شی ، ته اکثربياداسی ګناهونو کی هم مبتلا کيږی چې په هغو ګناهونو کی هغه کسان هم نه وي مبتلا چاته چې ته دعوت ورکوی. لومړی ګناه داده چې له تانه به

خپله ذمه واري يعنی دحقی خبری کول پاتی شي. (۲) بيابه ته ددوی د زړونو ساتلو دپاره مختلفی نوی نوی اوبدعی طريقی اختياروی ولی چی الله مونږ ته دحق رسولو طريقه ښودلی ده خود چا زړونو ته دغه حق خامخا داخل شي او هدايت هم ورته وشي که دا ذمه واري څوک په خپل سر واخلي نو ددی طريقه به هغه له خپل ځان نه جوړوي ځکه چی ددی طريقه الله مونږ ته نه ده ښودلی ځکه چی دا زمونږ ذمه واري نه ده. (۳) دريم داچی ته خپل ځان له الله نه زيات حکيم ، زيات غيرتی او ددين زيات خير خواه ګڼی. وغيره وغيره.

اوس په دی باره کی دالله جل جلاله په ارشاداتو باندی غور وکړئ چی دخپلې ذمه واری پريښودل خولاپريږده او خلکوته دهدايت کيدلو ذمه واري قبلول خو لاپريږده صرف ددی خبری سوچ کولو باندی هم اوپه داعي کی دخلکو د هدايت ذمه واري قبلولولپاره صرف دڅو نښو ښکاره کيدلو باندی هم الله ملامت کړی دی. په داعی کی خلکوته دهدايت کيدلو د ذمه واری قبلولو نښې دادي چی : (۱) داعي دخلکو د هدايت د پاره له حد نه زيات غمجن شي. (۲) داعی له خپلې ذمه وارۍ نه بی پرواه شانی شي مثلاً: څوک چی دداعی خبره واوري دهغوی تربيت دداعی ذمه واري ده خوداعي له دی نه بی پرواه شي او نورو غتمو خلکوته دی لپاره متوجه شی چی هدايت عام شي وغيره. (۳) دريمه نښه يی داده چی داعی بياد مخالفينو غير شرعی او بی ځای خبرو دمنلو خواهشمند

او حریص وي که : په دغو لاندینو آیتونو کې غور وکړئ نو زمونږ دخبرې تصدیق به درته وشي .

## داعي ته له حد نه زیات غمجن کیدو باندې د الله له لوري ملامتي

﴿ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ ۝ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ﴾ [الشعراء : ۲-۳ ] .

(( کیدای شي چې ته ووژنې ځان خپل په دې وجه چې نه کیږي دوی مؤمنان )) .

## د مخالفینو بې ځای خبرو منلو ته مائل کیدلو باندې د الله له طرف نه ملامتي

﴿ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا﴾ [الكهف ٦] .

(( کیدای شي چې که دوی ایمان رانه وړي نو ته به د ډیرغم په وجه دوی پسې خپل ځان ووژنې )) .

او الله سوره الاسرى کې فرمایي :

﴿ وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ۝. وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلًا۝. قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تُؤْمِنُوا۝. [الاسراء: ١٠٥ _ ١٠٧].

(( او په حق سره نازل کړی دی مونږ دغه ( قرآن ) او په حق نازل شوی دی هغه، اونه یی رالیږلی مونږ ته مګر د زیری ورکوونکی او ویره ورکوونکی اوقران مونږ حصه حصه کړی دی دی لپاره چی تلاوت وکړی ته هغه په خلکو باندی په دمه دمه او نازل کړی دی مونږ هغه په نازلولو سره ورته ووایه چی (( ایمان راوړئ په دغه ( قرآن ) یا ایمان مه راوړئ )).

داستاسو مرضی ده خو بیایی عذاب ته تیار ووسئ.

﴿ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا۝ وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا.... إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا﴾. [الكهف : ٢٨ - ٣٠].

واری پرېږدي یاله خپل ځان نه ورته حکمتونه جوړ کړي. (( كَلاَّ)) هیچری داسی نه ده پکار.

او الله فرمایی :

﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَى إِلَيْكَ وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَنْ يَقُولُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ إِنَّمَا أَنْتَ نَذِيرٌ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ﴾ [هود١٢].

(( نو کیدای شي چی ته پرېږدی ځنی هغه (حق ) چی وحی کیږي تاته، او تنګیږي په دی سره سینه ستاچی دوی وایی: ولی نه ده نازل کړی شوی په هغه ( نبی صلی‌الله علیه وسلم ) باندی خزانه یا ( ولی نه ده ) راغلی هغه صلی‌الله علیه وسلم سره مَلَک بی شکه ته بل څه نه یی ( یعنی د دوی د هدایت ذمه وار نه یی اونه دغه مطالبی پوره کولی شی ) ته صرف ویره ورکوونکی یی. او الله د هرشی ذمه وار دی )).

او الله فرمایی : ﴿ وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُمْ بِآيَةٍ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَى فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ ۝ إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ وَالْمَوْتَى يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴾. [ الانعام:٣٥-٣٦].

(( اوکه وي تاته مشکل د دوی مخ اړول نو که کولی شی چی وغواړی سرنګ لره په زمکه یاپاونې ( یعنی اندرپایه) اسمان ته او راوړی ته دوی ته څه نښه ( پیغمبرانو خودالله په وحی صبر کړی دی که ته صبرنه کوی او ددوی مطالبے ملنو ته دی زړه وي نو داسی اوکه ) او که خوښه وای دالله نو جمع کړي به وو الله دوی لره په هدایت باندی ( یعنی الله دوی باندی په خپلی طریقې خپله خبره مني ته پکی نوری طریقې مه جوړه وه نوری طریقې دالله خوښې نه دي، که نوری طریقې دالله خوښې وای نو هغه بیا الله ته له تانه ښې معلومی دي هغه به درته ښودلی وی یا بیا له ټولونه ښه طریقه آیا دانه وه چی الله په زبردستي دوی ته هدایت کړی وی ) نو مه کیږه (او بالکل نشی ) دناپوهانو نه یقیناً هغه کسان حق قبلوي چی (خبره دمنلو په نیت ) آوري، او ( کوم چی په ژوندانه ) مړه ( دي) نو پورته کوي به الله دوی لره ( دقیامت په ورځ ) بیابه دوی هغه ته ورګرځولی شي(ددا سی خلکو فیصله به بیاهلته دالله په عدالت کی کیږي دیته مه خفه کیږه )).

دا په یاد وساتئ چی د آیت په ترجمه کی چی په قوسینو ( ) یا بریکټ کی ما څه لیکلي دي هغه ددعه رمانی داعی دپاره دي چی هغه په دغه ایت باندی عمل کول زده کړي که صحیح وي نو عمل ورباندی وکړي اوکه صحیح نه وي نو بیادهغه هیڅ قیمت نشته اونه بیاهغه دعمل کولو لایق دی، خو دومره ده چی ماچی څه لیکلي دي نو هغه د آیت سیاق او سباق او دتفاسیرو دسلفو مخالف زما په ګمان کی نه دي. له دغو پاسني آیتونو څخه یوه خو

ستا ذمه واري معلومه شوه چې که ته داعي وې نو ستا ذمه واري داده چې څوک په کومې ګناه کې مبتلا وي هغه ته دالله له عذاب نه وويروه اودحق منلو هغه فضائل ورته بيان کړه چې کوم په قرآن او په صحيح احاديثو کې دي مطلب داچې هغوی ته دحق دين د رسولو کوښښ ستا ذمه واري ده، په دې کې به ستا دوه مقصده وي يو داچې: دقيامت په ورځ ته دالله له عذاب نه بچ شې بل به دې له الله نه دا اميد هم وي چې کيدی شي دغه خلکوته هدايت وشي، خودا ذمه واري ستانه ده چې دوی خامخاومني او هدايت هم ورته وشي داخو بيادهغه خلکو ذمه واری ده چاته چې ته دعوت ورکوی، بس ته دوی ته حق ورسوه منل اونه منل ددوی خپل کار دی، که دوی نه مني نور خلک هم شته نورو خلکوته دعوت کې مشغول شه که بيا ددی ټولو خبرو امکان نه وي نو بيا بس دکتاب او سنت اودسلفو صالحينو فهم مطابق دالله عبادت کې مشغول واوسه چې کله هم دقرآن او حديث له ښودلې شوی طريقې نه علاوه بل څه طريقه ستا دماغو کې راشي نوپه دې سوچ يې پرېږده چې که داطريقه صحيح وای نو الله به ضرور په قرآن يا حديث کې نازلوله. الله دانه ده خوښه کړې چې ته خلک سيدې لارې ته روالې که هغه په هره طريقه وي بلکه الله دا خوښه کړې ده چې ته خلک سيده لارې ته په هغه خاصې طريقې سره راوله چې کوم الله نازله کړېده او هغه داده چې حق زده کړه په هغه عمل وکړه او هغه بل ته ورسوه خوږوي اوکه ترېخ وي.

(۱) **تنبيه** : حق طرف ته دعوت ورکول صرف ديته نه وايي چې
کوم شی طرف ته ته دعوت ورکوی هغه له قرآن او حديث نه ثابت
وي ، بلکه دی سره داهم ضروري دی چی دقرآن او حديث نه دکوم
شي مخالفت کيږي له هغه شی نه په خاص طور باندی خلک منع
کړی اودهغه په مقابل کی دقرآن او حديث نه ورته حق بيان کړی.
دباطل پرستو پشان کاربه نه کوی چی خلک په شرک کی مبتلا وي
او دوی دغه مشرکينو لره دشرک نه منع کول د حکمت خلاف ګڼي
او نورو داسی شيانو طرف ته يی رابلي چی هغو شيانوپه طرف
دعوت په دغو مشرکانو بدنه لګيږي. خلک دقبر پرستۍ په شرک
کی مبتلا وي او دوی يی دبت پرستۍ شرک نه منع کوي هم دارنګه
خلک دالله دحاکميت په باره کی شرک کی مبتلا وي. اقوام متحده
خپل رب مني، اوپه اجتماعي، قانوني او سياسي ژوند کی
سيکولرازم او جمهوريت خپل دين ګڼي اودوی يی دبت پر ستۍ
قبر پرستۍ وغيره داسی شرکياتو نه منع کوي چی هغوی په هغه
ی له سره مبتلا نه وي .

داهل حق طريقه داده چی : مثلاً دمکی مشرکين دبت پرستۍ او
اء پرستۍ شرک کی مبتلا وو، په اخرت يی ايمان نه وو. خپلی
بې يی ژوندی خښولی وغيره وغيره نو رسول الله صلی الله عليه
سلم له دغو ګناهونو نه هغوی منع کړل اګرچی داخبره په
شرکينو باندی ډيره سخته[۱] وه او الله نبی صلی الله عليه وسلم له

---

[۱] كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ ما تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ...." سورة الشورى

دغو مشرکینو سره دهرقسم مداهنت نه منع کړی و. بیا نبی صلی الله علیه وسلم مدینی ته هجرت وکړو نو یهود چی په کومو ګناهونو کی مبتلا وو نبی صلی الله علیه وسلم بغیر د څه مداهنت نه هغوی ددغه ګناهونونه منع کړل خاص طور باندی یی خپلو علماؤ لره الله سره دشریک جوړولو نه منع کړل اودعلماؤ اودعوامو اکثریت وغیره ،له الله سره دشریک جوړولو معنی داده چی : ته علماء یاد عموامو اکثریت وغیره ته دتحلیل او تحریم اودقانون جوړولو حق ورکړی (وګوره سوره التوبه ایت ۳۱ ). بیا... دشیخ الاسلام ابن تیمیه زمانه راغله نودهغه په زمانه کی خلک دنورو ګناهونو سره سره دقبر پرستی په شرک کی هم مبتلاوو اودالله حاکمیت په باره کی په داسی شرک کی مبتلاوو چی ځینو خلکو د تحلیل او تحریم حق خپل علماو پیرانو ته ورکړی و او ځینو خلکو داحق د چنګیزخان جوړ کړی قانون (( یاسا ) یا ((یاسق)) ته ورکړی و او دغو خلکوبه په انفرادي ژوند کی اګرکه اسلام یی خپل دین منلو خو قانون یی د چنګیزخان منل. نوشیخ الاسلام اودهغه شاګردانو ابن القیم، ابن عبدالهادی او ابن کثیر وغیره ددغو غلطو عقائدو په سختی سره تردید وکړو او فتوی یی جاری کړه چی څوک د چنګیز خان قانون (( یاسا )) یا (( یاسق )) باندی فیصلی کوي هغه کافر اوله اسلام نه خارج دی. بیاد شیخ محمد بن عبدالوهاب زمانه راغله نودهغه علاقی او زمانی خلک د نورو ګناهونو سره سره دقبر پرستی په شرک کی سخت مبتلا وو نو هغه رحمه الله دخپل ژوند تقریباً ټوله حصه دهمدغه شرک په تردید کی

ولګوله. اوس هم چې څوک دحق دعوتورکول غواړي نو هغه ته دټولو سابقه غلطو عقائدو او اعمالو ترديد سره سره دهغو غلطو عقائدو او اعمالو ترديد هم پکاردی چې ددی زمانې خلک په کې مبتلا دي خاص طور باندی دسيکولرزم او د اقوام متحده قوانينو او دجمهوريت ترديد، دقبر پرستۍ شرک ترديد او په قبائلو کې د جرګې ترديد، په کورونو کې دغير شرعي ژوند ترديد اودی ټولو دپاره دشرعي عواملو اختيارول... ددغه بحث يعنی دغه کوم بحث چې د ((تنبيه)) ترعنوان لاندی وشو ددی ډير زيات دلائل دي چې يودهغه نه دنبی صلی‌الله عليه وسلم او دعلماءحق طريقه کار او کړنلاره چې قرآن، حديث او تاريخ ترينه ډک دی. اودسوره نحل دغه ايت باندی هم غوره وکړئ:

﴿ ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ﴾ [النحل ۱۲۵].

(( دعوت ورکړه دخپل رب لاری طرف ته په حکمت او ښايسته نصيحت سره او بحث وکړه له دوی سره په هغه طريقه چې هغه ډيره ښه وي يقيناً ستا رب ښه پوه دی په هغه چاچې غلط شوی دی له هغه لارې نه او هغه ښه پوهـ دی په هدايت موندونکو باندی )).

په دی ايت کی دحکمت نه مراد قرآن ، حديث او دلائل دي او دحکمت معنی ده (( وَضْعُ الشی ء فی المکان اللائق به )) یعنی کیښودل دیوشي دهغه شي په لائق او مناسب ځای کی .

اود (( ظلم )) معنی ده (( وضعُ الشی فی غیر موضعه )) کیښودل دیو شي په داسی ځای کی چی هغه دهغه دکیښودلو ځای نه وي.

د حکمت اود ظلم له دغه معنی نه معلومه شوه چی په یو ملک او علاقه کی خلک په شرک کی مبتلا وي او ته هغوی لمونځ ته رابلی اودشرک ورته نوم هم نه آخلی چی هسی نه خفه شي. داظلم دی او که بیا هغوی دشرک نه منع کوی اوپه همدغه موضوع په دغه علاقه کی تقریرونه کوی نوداحکمت دی اګر چی دی سره ضمناً د نورو مسائلو ذکر او بیان هم اوشي. دیوی علاقی خلک دقبر پرستی په شرک کی مبتلاوي ، ته دوی دبت پرستي له شرک نه منع کوی حال داچی هغوی دبتانو عبادت نه کوي اوته په درسونو، تقریرونو او بیانونو کی صرف دبت پرستی، شرک ذکر کوی اودهغه بد بیانوی. داظلم دی اګرکه ته دغه ټول بیان او تقریر دقرآن او حدیث نه کوی. ولی چی دا ځای دبت پرستی د تردید لائق ځای نه دی، دبت پرستی د تردید لائق ځای د هندوانو وغیره بت پرستو علاقی دي هغه ځای کی بیاداظلم نه دی.

اوچی کله ته عام طور سره دشرک تردید سره سره دقبر پرستوپه علاقو کی خاص طور باندی دقبر پرستی تردید کوی نوداحکمت

دی، ولی چی ددی نصیحت لائق ځای همدغه دی. هم دارنګه ځینې خلک نه دبتانو عبادت کوي، نه دقبر عبادت کوي، نه یهودیت نصرانیت وغیره قدیم باطل مذهبونه مني خوسیکولر وي، د اقوام متحده قوانین مني اوپه جمهوریت یی ایمان وي نو دغه خلکو ته د قبر پرستي وغیره قباحت بیانول تحصیل حاصل، دوخت ضائع کول او ظلم دی او دوی له سیکولرازم، د اقوام متحده له قوانینو او جمهوریت نه منع کول حکمت دی.

(۲) **تنبیه** : داپه یاد وساته چی کله کله دغه پاسنی باطل پرست ټول په یوه علاقه کی جمع وي نوبیا حکمت دادی چی په داسی علاقو کی دهغه تمامو باطلو عقائدو تردید وکړی شی چی په کومو باطلو عقائدو کی دوی مبتلاوي، او دی دپاره دټولونه بهتره او اسانه طریقه په هغه علاقه کی دقرآن کریم ژوندی او انقلابی درس شروع کول دي. نه مړ درس چی ته دقرآن په درس یا دعوت کی صرف هغه خبری کوی چی هغه په خلکو بنې لږي اوبدی یری نه لږي. حال انکه دی سره اصلاح بالکل نه کیږي. اصلاح به هله کیږي چی هغوی دشریعت تریخ او خوږ دواړه قبول کړي یا یی بالکل مسترد کړي، چی دپاکو او خبیثو فرق وشي او :

﴿لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَا مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ﴾

[الانفال: ٤٢].

(( چې څوک هلاک کیږي نودلیل سره دې هلاک شي او څوک چې ژوندی کیږي نو دلیل سره دې ژوندی شي )).

نو دتبلیغ او دعوت اول شرط بیان په دې ځای ختمو.

دویم شرط په کې دادی چې له خپل کور اوله خپلې علاقې نه شروع شي، او خپل کور اوعلاقه کې د تبلیغ او اشاعت نه بعد په بلې علاقې کې دتبلیغ او دعوت او اشاعت په ځای هم دغه کور، کلي او علاقې کې ددغه دین او شریعت غالب کول او نافذکول پکار دي. ددې دلیل دنبي پاک محمد صلی الله علیه وسلم پوره ژوند دی چې نبي صلی الله علیه وسلم سره ددې چې دټولو خلکو دپاره الله رالیږلی وو خو بیاهم دا صلی الله علیه وسلم په خپل ۲۳ کاله پیغمبري ژوند کې دعربونه باهر نه و ولاړ. او سره ددې چې الله ته پته وه چې نبي صلی الله علیه وسلم چې په خپله علاقې کې ددین د غالبولو او نافذولو کوښښ کوي دومره وخت کې به په شاو خوا ممالکو کې خلک (( بې کلمې )) مړه کیږي او جهنم ته به ځي الله ته داخبره معلومه وه خوبیایی هم خپل نبي صلی الله علیه وسلم ته دعربوله علاقې نه باهر دتبلیغ کولو حکم ورنه کړو. سره ددې چې نبي صلی الله علیه وسلم باندې دتبلیغ کولو ذمه واری له ټول امت نه هم زیاته وه.صرف د څو ممالکو بادشاهانو ته یې خطونه لیکلي وو ( نه دټولو ممالکو بادشاهانو ته ) او هغه خطونه یې هم دملک هریو فردته نه لیږه بلکه بادشاه ته یې لیکل اود هغه ملک بادشاه یې دهغه ملک دیو یو فرد ذمه وار ګرځاو لکه چې دروم پادشاه

هرقل ته یی لیکلي وو (( ... أسلِمْ تسلم فإن توليت فَإنَّ عليك إثم الاريسـيين... )) رواه البخاری اوکما قال. ((مسلمان شه نو دنیاکی به زماله توری نه او اخرت کی به دجهنم نه ) بچ شی اوکه چیرته تامخ واړاو نو بیا د ملک دتمامو افرادو ذمه واري پرتاده)).

بخاری کی حدیث دی چی نبی صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي: ((...والرَّجل راعٍ فـی أهل بيته وهو مسئول عـن رعيتـه)) هرسړی ذمه وار دی په خپل کور والاو کی اوله هغه نه به تپوس کیږي دخپلی ذمه واری. نو چه په کور کی دی شریعت نه وي نافذ کړی د نور عالم غمونه مه کوه. ( چهوټامنه بړی بات ) اکثر خلک چی خپلی علاقی اوخپل کور کی شریعت نه نافذوي او تمام عالم کی ددین اشاعت کوي او دی باندی دخپل جیب نه پیسی لګوي دی وجه دامعلومیږي (١) چی ددین نفاذ اصل ذمه واری ده نو شیطان چی کله پوه شي چی دغه مُبلغ او داعی ددین نه علاوه بل طرف یعنی بی دیني طرف ته نه راځي نو بیاشیطان کوښښ کوي چی ددین په نامه تاباندی داسی کارونه وکړي چی هغه ستا ذمه واري نه وي اوله اصل ذمه واری نه تا خطاکوي. دویمه وجه دادہ چی دشریعت په نفاذ کی تکلیف ، اود خپلوانو مخالفت دی بلکه پیدای شي چی عالمی طواغیت هم ددغه نفاذ په وجه حرکت کی شي ولی چی هغوی ته اصل خطره دشریعت او ددین په نفاذ او اشاعت کی ده له اشاعت نه هغوی ته څه خطره نشته بلکه چی څوک اشاعت کوي هغوی دکافرو ډیر قوانین مني، دجهاد دعوت چی

دغه داعیانو ته ورکړی شي نو وايي چې مونږ بیاپه باهر ملکونو
کی تبلیغ نه شو کولی، بلکه دکافرو ممالکو تعریفونه کوي چې
دهغوی په ممالکو کی ازادی ده. اقبال وايي :

مُلاکو جوهند مین سجده کی اجازت هے
نادان یه سمجهتاهے که اسلام هے ازاد

دا یاد ساتئ چې داقامت دین او نفاذ شریعت چې کوم اهمیت په
قرآن او حدیث کی بیان شوی دی هغه اهمیت په تمامو سیاسي او
مذهبي فرقو کی نشته. څوک خو دشریعت نفاذ د اسلام اباد نه
غواړي بلکه هغوی دشریعت نفاذ اسلام اباد پوری تړلی دی
اوداخبره یی فرض کړیده چې ترڅوپوری له اسلام اباد نه دشریعت
اعلان ونه شي نو مونږ شریعت په بل ځای کی نشونافذکولی. په
دی وجه دوی نه خپل کور کبی دشریعت نفاذ کوشش کوي اونه
پخپله علاقی کی ، بس اسلام اباد ته یی خولې نیولي دي .

لنډه داچې : له شرایطو سره برابر ددعوت تبلیغ کار کول ډیر
زیات ضروری دی لکه لمونځ فرض دی خو سره دشرایطو. په دعوت
او تبلیغ کی د نورو شرایطو سره سره دوه شرطونه ډیر زیات مهم
دي چې خلاصه یی داده چې له قرآن او حدیث نه به دهغو خبرو
دعوت اوتبلیغ کوئ چې د هغی موقع وي، هم دغه حکمت دی
حکمت دانه دی چې له خلکونه د الله اورسول صلی‌الله علیه وسلم
هغه حکمونه پټ کړی شي چې خلک یی مخالفت کوي بلکه دداسې
حکمونو ښکاره بیانول عین حکمت او دداعي اصل ذمه واري

که څوک یې منې اوکه نه. نبی صلی‌الله علیه وسلم فرمایي چې مابانده مخکیني امتونه پیش کړی شول نو ما وکتل... چې داسې نبی علیه السلام هم وو چې له هغه سره هیڅوک هم نه وو (یعنی هغه ددعوت کار خو کړی و خو هیڅچا هم دهغه خبره نه وه منلې) بخاري ومسلم. دویم شرط په دعوت او تبلیغ کې دادی چې له خپل کور اوعلاقې نه شروع شي اوبیاپه خپل کور او کلي کې ددین داقامت او دشریعت د نفاذ کوشش وشي. ﴿ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ﴾ [الشوری :۱۳].

یعنی الله چې کومه طریقه نبی صلی‌الله علیه وسلم او دده نه مخکې پیغمبرانو ته مقرر کړې وه او دکومې طریقې حکم چې دوی ته کړی وو هغه دا وه چې: (( قائم کړئ دین لره اوجدا جدا فرقې فرقې.)) پکې مه کیږئ.

(۳) **تنبیه**: په دعوت کې د نرمۍ اوبرداشت او صبر دامطلب هرگز نه دی چې ته حق پټ کړې یاپه مخالف کې کوم عیب موجود وي هغه ورته یادنه کړې... الله چې موسی او هارون علیهما السلام فرعون ته ولیږل نو ورته یې وفرمایل: ﴿فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى﴾ (طه ٤٤).

(( تاسو دواړه هغه (فرعون) ته په نرمۍ سره خبره وکړئ کیدای شي چې هغه نصیحت قبول کړي یا وویریږي)).

خو موسی علیه اسلام دنرمۍ کولو دامعنی و نه کړه چې حق بیانول پریږدي بلکه فرعون ته یی په نرمۍ سره داسی سختی خبرې وکړې چې فرعون ډیر غصه شو او پوه شو چې موسی دده د حکومت قانون او دین بدلولو دپاره راغلی دی اګرکه فرعون دی ته دفساد نسبت کاو. الله فرمایی :

﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَى وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ... ﴾ [ غافر: ٢٦ ].

او فرعون وویل: پریږدئ ماچې قتل کړم زه موسی، او مدد دی وغواړي دخپل رب نه یقیناً زه ویریږم په دی خبره چې بدل به کړي (موسی) دین ستاسو )).

هغه سختی خبرې دا وی : (١) فرعون د ﴿ أناربکم الاعلی ﴾ دعوه کوله یعنی زه ستاسو رب اعلی یم )). او موسی ورته وویل : ﴿ ربكُمْ وَربُّ آبائکم الاولین ﴾ (( چې الله ستاسو هم رب دی اوستاسو دپلارانو هم رب دی )) .

﴿وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَافِرْعَوْنُ مَثْبُورًا﴾ . (( اویقیناً زه ګمان چې په تابانـدی ای فرعونه د هلاک کړي شوي )). د موسی علیه السلام او فرعون د قصی پوره تفصیل په قرآنکرم کی وګورئ.

الله فرمایی: ابراهیم علیه السلام (( أَوّاهٌ حَلِيم )) وو یعنی ډیر بـــرداشت والاوو. خو ددی دامطلب نه وو چی هغه حق پټولو. الله فرمایی :

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّـــي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ [ الأنعام٧٤].

(( اوکله چې وویل ابراهیم علیه السلام پلار آزر ته چی آیا ته بُتانو لره معبودان جوړوی، بی شکه زه وینم تا اوستاقوم په ښکاره ګمراهۍ کې )).

﴿ يَاقَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ﴾ [الأنعام٧٨]. (( چی کوم څوک تاسو ( الله ) سره شریکوئ زمادهغوی نه براءت دی.﴿ یا أبت لاتعبد الشیطان ﴾ ای زماپلاره! دشیطان عبادت مه کوه. ﴿فإنهم عدوّلـــی إلاّرب العلمین﴾ یقیناً ستاسومعبودان زما دښمنان دی مګر رب العلمین (می دوست دی ).﴿ لَقَدْ كُنتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ [الأنبياء٥٤].

(( تاسو اوستاسو پلاران په ښکاره ګمراهۍ کې دي )).

﴿ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَـــالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا

بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ﴾ [الممتحنة : ٤].

(( بې شکه، دې ستاسو لپاره ښايسته نمونه په ابراهيم اودهغه په ملګرو کې چې کله دوی وويل خپل قوم ته چې مونږ براءت کوو له ستاسو نه اودهغه شيانونه چې عبادت يې کوئ تاسو دالله نه علاوه، مونږ په تاسو کفر کوو(يعنی ستاسو نه انکار کوو) اوښکاره به وي زمونږ اوستاسو په مينځ کی دښمني او کينه هميشه دپاره. ترهغی پورې چې ايمان راوړئ تاسو په يو الله باندې)).

او رسول الله صلی‌الله عليه وسلم ته الله جل جلاله وفرمايل چې :

﴿قُلْ يَاأَيُّهَا الْكَافِرُونَ۝ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ [الكافرون:١-٢].

(( ورته ووايه چې ای کافرانو! عبادت نه کوم زه دهغو شيانو چې عبادت يې کوئ تاسو)).

بلکه په مسلمانانو کی چې يوسړی دشرک الفاظ اوويل نونبی صلی‌الله عليه وسلم ورته وفرمايل : (( أجَعَلْتني لله نِدًّ )) ايا ته ماله الله سره شريک جوړوې.

يوبل سړی ته يې وفرمايل : (( إنك امرُءٌ فِيْكَ جاهلية )) ته داسی سړی يې چې په تا کی د جهاليت (جراثيم) اوس هم موجود دي. او بل ته يې وفرمايل : (( أفتَّانٌ أنت ))..... چې ايا ته فتنه ګرېې ؟!

له الله نه امید دی چی ستاسو به په دی آیتونو او حدیثونو تسلی شوی وي چی حکمت دحق پټولو ته نه وایی بلکه چی دکومی حقی خبرې ضرورت پیښ شي هغه به کوي اګرکه هغه سختی وي خودغه سخته حقه خبره به په نرمۍ سره کوی، نه به فحش کلامی کوی اونه به دفحش کلامي ځواب په فحش کلامي سره ورکوی بلکه (( ادفَعْ بالتـــی هی أحسن )) ځواب به په هغه طریقه سره ورکړی چې هغه ډیره ښه وي. خوکه ګمراه وي نوپه نرمه طرٖیقه سره ورته ووایه چی ته ګمراه یی که مشرک وي نو ورته به وایی چی مشرک یی اوکه کافر وي نو ورته به وایی چی کافر یی. دی ته په شریعت کی نرمي او حکمت نه وایی چی ته ورته اووایی چی : ته خو ډیر ښه سړی یی او دینداره یی وغیره)) که داحکمت وای نوبیا خو ددی خلاف دغو پیغمبرانو کړی دی نو مونږ باندی هم ددغه بی کاره ((حکمت)) خلاف کول لازم دي.

اوچی کله بیا ته په ژبې سره د منکروکارونو دختمولو طاقت هم نه لری، نوبیابه په زړه کی ورته بد وایی په ژبې سره د منکر دختمولو د طاقت نه لرلو مطلب دادی چی ، تابه خبله ماتحتو باندی شریعت نافذ کړی دی اوپه ظاهري ډول دی په دوی کی منکرات ختم کړي دی اودباطن جوړولو دپاره دی هم ورته دقرآن او صحیح احادیثو درس شروع کړی دی خوستاپه لاس او ژبه کی دا طاقت نشته چی ددوی په زړونو کی پټ منکرات عملاً ختم کړی. (۲) دویم مطلب دادی چی مخالف دی ډیرطاقت ور او زور آور دی

اوته ډیر کمزوری یی په دی وجه له تاسره لاس او ژبې سره دمنکر ختمولو طاقت نشته (۳) دریم داچی ته په خپل کور کلي کی دموجودو منکراتو ختمولو ذمه واري پوره کوی، اودی سره سره په نور عالم کی دموجود منکراتو نه هم خبریږې لیکن چی کله ته په نور عالم کی دمنکراتو ختمولو دپاره هغوی ته ورځې نو له تانه خپله ذمه واري پاتی کیږي او دومره طاقت او وس دی نشته چی دواړه کارونه وکړی نوپه دغه وخت کی ته بیا معذور یی ته به بیا دغه منکراتو ته صرف په زړۀ کی بد وای. یوصورت بیا داهم شته چی ته بی همتی یی په دی وجه ته ژبې سره څه نه شی ویلی نو دیته یی بیاپه حدیث کی((اضعف الایمان)) دټولو نه دکمزوري ایمان والا ویلي دي.

خلاصه داچی: دالله دعذاب نه دځان دبچ کولو، جنت ته داخلیدلو اوله ځان سره دالله دمدد شاملولو دپاره ضروري ده چی ته دالله په دین باندی درسول الله صلی‌الله علیه وسلم په طریقه عمل کولو سره سره ددین د حفاظت کوشش هم وکړې خوپه دی شرط چی (۱) دالله ددین مدد او دهغه حفاظت به ته په هغو شیانو، وسایلو او اسبابو سره کوی چی هغه مونږ ته الله او رسول صلی‌الله علیه وسلم په قرآن او حدیث کی ښودلي دي د قرآن او حدیث علم، په هغه باندی عمل، دعوت او تبلیغ، امر بالمعروف، نهی عن المنکر، درس او تدریس، جهاد او قتال فی سبیل الله. شوری، بیت المال، اودشریعت نفاذ.

(۲) دویم داچې الله څومره طاقتونه او توانیاني درکړې دي په دغه پاسني شیانو کې چې دکوم یو موقع محل او وخت وي په خلاصه ټنده یې خرچ کوي.

(۳) په دغو پاسنیو شیانو کې چې دکوم شي موقع وي په هغې کې به دقرآن او حدیث نه خپله ذمه واري معلومه وي. په دې کې به دا خیال ساتي چې (۱) خپلې ذمه وارۍ کې څه کوتاهي ونه کړي. (۲) دخپلې ذمه وارۍ نه زیات بوج اوچت نه کړي (۳) اودبل چا ذمه واري په خپل سر وانه خلي.

الله فرمایي :

﴿ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝ الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾ [الحج ٤٠-٤١].

((او الله به ضرور مدد کوي دهغه چاچې مدد کوي د دین دالله، یقیناً الله ډیر طاقت ور او زوره ور دی. (اوس په دې ځای کې سوال دادی چې دالله ددین مدد څه شی دی؟ ددې پیژندل په دې ضروري دي چې دی سره دالله مدد کول تړلی دی ترڅو چې ته دالله ددین مدد کوې نو دالله مدد به هم درسره وي ، کله چې ته دالله ددین مدد نه کوې نو بیابه دالله خاص مدد درسره نه کیږي نو دالله ددین مدد څه شی دی؟ ددې ځواب یې په دویم ایت کې ورکړی دی خلاصه دځواب دادی چې الله تاته څومره طاقت او څومره زمکه

درکړی ده اګرچې هغه دیو کور هومره هم وي دهغه مطابق ته دالله دین په خپل ځان اوپه نورو خلکو نافذ او غالب یې کړه او نتیجه اوانجام یې الله ته پریږده، دی سره ستاکار نشته. اوس دایت ترجمې ته غوږ شه) ((هغه کسان (یعنی له هغه کسانو سره به زه مددکوم چې هغوی په حقیقت کې زما ددین مدد او حفاظت کوی )چې که دوی ته زه په زمکه کې طاقت ورکړم نو لمونځ قایموي او زکات ورکوي دمعروف (یعنی دشریعت) حکم کوي او دمنکر(یعنی دشریعت په خلاف شیانو) نه منع کوي او الله ته دی نتیجه او انجام د کارونو )) یعنی ددی نتیجه بیا الله ته پریږدئ.

او الله فرمایی :

﴿ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴾ [الطلاق۷] .

((او ذمه وار نه جوړوي الله یو نفس لره هم مګر دومره چې څومره یې هغه ته (طاقت ) ورکړی دی، او الله به ژر له تنګسیانه وروسته اسانتیاراولي)) . په دی آیت کې دی خبری ته اشاره ده چې کله ته خپل پوره وس او طاقت د الله دین کې لګوی نو ضرور به الله ستا تنګسیا په اسانتیا سره بدلوي یعنی دنیا کې .

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ [الأعراف۴۲] .

(( او هغه کسان چی ایمان یی راوړی دی اونیک عملونه یی کړیدي ذمه وارنه جوړوو مونږ یو نفس لره هم مګرد هغه د وس مطابق دغه کسان جنتیان دي، دوی به په هغه کی همیشه وي)).

دی آیت کی ئی د خپل وس مطابق عمل کولو باندی د جنت وعده کړیده .

او الله فرمایي :

﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ. وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ﴾ [الأنفال ۵۹-۶۰].

(( او ګمان دی نه کوي هغه کسان چی کفر یی کړی دی چی بچ به پاتی شي دوی بی شکه دوی عاجز کول نه شي کولی او تیاری وکړئ ددوی مقابلی دپاره څومره وس ... کیږي ستاسو دقوت (اواسلحی) نه اودساتلو د آسونو ... رویسئ به تاسو (یعنی دهشت به اچوئ تاسو) په دی سره دښمن د الله اودښمنان ستاسو، اوله دغو کسانو نه علاوه نور کسان ( به هم ویریږي) چی تاسو یی نه پیژنئ، الله یی پیژني، او هغه چی خرچ کوئ یی تاسی څه شی دالله په لار کی نو پوره بدله به درکړی شي تاسوته اوتاسو سره به

ظلم نـه کیـږي )) . دی آیـت کـی ئـی د خپـل وس مطـابق د جنګـي سامان تیارولو باندی او د خپل وس مطابق د الله په لاره کی د مال خـرچ کولـو بانـدی د غلبی وعـده کړیـده او هغـه غلبـه دا ده چی د کافرو په زړونو کی به الله رعب او دهشت واچوي .

اوالله فرمایی :

﴿ فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنْكِيلًا ۝ مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِنْهَا [النساء: ٨٤_ ٨٥ ] .

(( نو جنګ کوه ته ((اګر که تاسره هیڅوک هم نه وي) دالله په لار کی ذمـه وار نـه یـی جوړ کـړی شـوی تـه مګـر دخپـل ځان او ((ددغه جنګ) ترغیب مومنانو تـه هم ورکوه ( اوچی کلـه تـه دخپـل طاقت مطابق دغه ذمه واری پوره کوی ) نو امید دی چی الله دکافرو جنګ بندکړي او الله ډیر سخت دی په جنګ کې او ډیـر سـخت دی پـه سزا ورکولو کی، که چا (له تاسره) څه ملګریتوب وکړو نو وي به دپاره دهغه حصه د هغې نه )).

په دی آیت کی ئی د خپل وس مطابق جنګ کولو باندی د کافرو طرف نه د جنګي سیلاب ناکام کولو وعده کړیده .

خلاصة الخلاصه داده چي: که ته دخپل طاقت مطابق خپله ذمه واري پوره کوی نو دنیا او اخرت کی به دی الله مدد کوي.

(۴) **تنبیه**: په امت کی اکثرخلک په افراط یا تفریط کی مبتلا دي ځوک پکې دسیاست، جهاد، دعوت او تبلیغ خبرې کوي او وایی چی داغټې غټې خبرې کول پکاردي اوپه دین کی چی کومې ثابتی اسانی خبرې وي هغوته خاص اهمیت نه ورکوي او وړی خبری ورته وایی. او څه خلک پکی داسی دي چی لمونځ، روژه، حج وغیره نه علاوه بل څه ته دسره دین نه وایی خوته به په افراط او تفریط کی نه مبتلا کیږی، په دین کی چی کوم څه ثابت وي هغه ټول غټ دي خو څه پکی اسان دي او څه پکی لږ شانی مشکل دي. په دغو اسانو او مشکلو حکمونو کی الله صرف په هغه حکم سره راضي کیږي چی په هغه کی دری شرطونه په یو وخت کی موجود وي. (۱) اخلاص پکې وي (۲) دنبی صلی‌الله علیه وسلم په طریقه وي. (۳) په خپلی موقعی محل او وخت کی وي، که دیو آسان عمل موقع او محل وي نو دعقل تقاضا هم داده چی دی ته خوشحاله شی اوکه بیا مشکل حکم وي اود مشکل عمل کولو موقعه وي نوبه هغه به هم عمل کوي ولی چی جنت څه هوټل خونه دی چی کمره پکی ونیسې.

(۵) **تنبیه** : که چیرته دا غواړئ چی مسلمانان دخپل دین نه خبر شي او تعلیم یافته اود کفارو دکفر سکولونو مقابله وکړی شي اودهغوی دتعلیمي نظام مقابلی دپاره مورچلونه او سنګرونه جوړ

کړی شي نو اګرچې هرڅوک به ددی مقابلې لپاره دخپل وس او طاقت مطابق کوشش کوي دچابه د ډیرو پیسو وسه وي او څوک به چندی کوي او مدرسی او اسلامی سکولونه به وسره جوړوي، خوله ماسره دوه داسې طریقې موجودی دي چې که وغواړي نو وربانندی دامت تقریباً ټول خلک عمل کولی شي. هغه داچې : دکلي او قوم علماء دی کوشش وکړي چې په هر کور کی داسی افراد چې هغوی ناظره قرآن مجید ویلی وي په دی راضي کړي چې په کورونوکی هغوی په باقی افرادو باندی نورانی قاعده یابله کومه قاعده ورته اسانه وي اودقران مجید لوستل او زده کول شروع کړي او دی دپاره دی وخت مقرر کړي اودی سره دی دهر کور یو دوه کسان دپښتو لوستل زده کړي چې دلسو ورځو نه زیات وربانندی نه تیریږي اوبیادی دوی په کورونو کی په باقی افرادو په پښتو کی سبق شروع کړي اودی دپاره دی د دوه یا دری کالو نصاب جوړ کړی شي چې هغه نصاب دعقائدو، احکامو او دقرآن مجید ترجمه اود ذکر اذکار کتابونو باندی مشتمل وي . الحمدلله داټول کتابونه سره دقرآن د ترجمې په پښتو کی ملاویږي اوموجود دي. دی سره به زنانه او هلکان دالله ددین نه سر سري غوندی خبر شي. که بیا په دغه زنانه و او هلکانو کی څوک شوق لري او ډیر مشغولیت یې نه وي هغوی دی په مدرسو کی مزید علم وکړي، دمزید علم قدر او قیمت به هم ورسره بیاوي او اسان به ورته هم وي یو نصاب ماخپل کور دپاره جوړ کړی دی چې هغه الحمدلله په ډیر کامیابۍ سره روان دی، څه لږ شانی تغیر سره هغه تاسوته هم ښایم که خوښ مو وي نو اختیار

یی کړئ، که خوښ مو نه وي نو بیا د دینه بل ښه نصاب جوړ کړئ که کولی شئ ماته هم مشوره راکړئ. هغه نصاب دادی. ((تعلیم الصِّبْیَان)) د مولانا عبدالقدوس پشاور گنج والا. په دی کتاب کی دری حصی دي په اوله حصه کی عقائد او ایمانیات دي، په دویمه حصه کی دلمونځ، اودغسل او تیمم او جنازی مسائل دي، په دریمه حصه کی دصبایی، بیگایی اودتولې ورځې اوشپې اذکار او دعاگانې دي.(٢) ((تقویةالایمان)) داکتاب شاه اسماعیل شهید رحمه الله لیکلی دی او په پښتو ژبه ئی ژباړه شویده په دی کتاب کی دشرک د مختلفو قسمونو رد دی . (٣) ریاض الصالحین پښتو ترجمه: په دی کتاب کی اکثر فضائل دي او صحیح حدیثونه پکی ډیر زیات دي. (۴) د بُلوغُ المرام پښتو ترجمه یا عمدة الاحکام پښتو ترجمه په دغه دواړو کتابونو کی هغه احادیث دي چی له احکامو سره تعلق لري یعنی په دی کتابونو کی ددین اوشریعت مطابق پوره ژوند ښودلی شوی دی. اودغو کتابونو کی هرکتاب سره به د قرآنکریم ترجمه هم شاملوئ.

دویمه طریقه: داده چی: دکلي قوم علماء دی کوشش وکړي چی هرکلی کی دی عالم، یا حافظ،یا طالب یاکم از کم یوداسی دیندار سړی چی قرآن یی په ناظره ویلی وي تلاش کړي اود کلي جُمات (یعنی مسجد) کی دی مقرر کړي اوپه دی دی راضي کړي چی هغه دکلي هلکانو ته په جمات کی دمدرسی په طریقه سبق شروع کړي که څه مالي مشکلات لري هغه د دکلي والاؤ له طرف نه ورته حل

کړی شي، غټ کتابونه د دقوم او علاقی مدرسې ته وسپارل شي او واړه کتابونه، حفظ اودقرآن لفظي ترجمه او ناظره، تجوید دی ددغه دکلي جماتونو ته وسپارل شي ددغو دوه قسمه مدرسو د ډیرو منفردو فائدو نه څه دادي:

(۱) په دی دومره خرچه راځي چې تقریباً هر کلی او کور یی طاقت لري، دچندو ضرورت ورته نشته، بیلډینګونه او کمری یی تیاری جوړی دي، او خوراک څښاک هم هغه دی چې کوم تادسبق شروع کولو نه مخکی کولو. (۲) په طاغوتی حکومت کی د راجسټر کولو ضرورت نشته، که په ټولو مدرسو پابندیانی ولګیږي خو په دی څوک پابندي نشي لګولې، په خاص طور کور کی دننه مدرسې، دکفارو لپاره د سر درد دی. (۳) که جینی د کورنه ودیږي یا هلک د کور نه، بازارته، یاسکول کالج ته ځي نو دسترګو سره به ځي ړانده به نه وي، نو له چانه د دوکه کیدو چانس به یی ډیر کم وي اوکه مدرسې ته ځي نو سبقونه به ورته ترډیره حده پوری اسان شوی وي، په شریعت به ورته عمل اسان وي، که څوک دشریعت دنفاذ اعلان وکړي هم نو دوی کی به تر ډیره حده پوری له مخکینی نه شریعت نافذ وي، نو دوی ته به هم اساني وي اودشریعت نافذ کوونکو ته به هم اساني وي د دوی دغیرت رُخ به بیا دملک، قوم او خاندان طرف ته نه بلکی دین طرف ته بدل وي او چی کله د((یَاخَیْلَ الله ارکبي وبالجنة أبشري)) دجهاد اعلان وشي نو دوی به ان شاء الله تیاروي، او کله چی دوی ته دکافرو

طرف نه څه لالچ ورکړی شي ، څه دباو وربانـدی راشي یادڅه مصلحت مشوره ورته ورکړی شي نو دوی به بیا دسوره ال عمران ایته (۴۶) ژوندی تصویروي او ان شاءالله د دوی په خوله به بیا داخبره وي:

مفاهمت نه سکــهـا جبـــر نارواسے مجهے

مین سر بکف هون لڑادے کسی بلاسے مجهے

او دعلاقی اودسیمې مدرسي به بیادخپلې علاقې له طالبانو نه ډکې شي، اوچی په کومه مدرسه کې دخپلې علاقې طالبان وي نو یو خودهغې مدرسې خرچه کمه وي ولی چی اکثره طالبان به خوراک څښاک او سملاستو دپاره کورونو ته ځي بل دعلاقې او سیمې خلکو همدردیانې به له دی مدرسې سره زیاتی شي ځکه چی دغه خلک به بیا ددی مدرسې په فائدو پوه وي، نو هر سړی به یی د ترقی سوچ کوي. وغیره وغیره.

(۶) **تنبیه** : د مسلمانانوپه مینځ کی به اختلافات هله ختمیږي چی کله په صدق سره دقرآن او حدیث دلیل ته هغه اهمیت ورکړی شي کوم اهمیت چی دده دالله په نیزد دی . ﴿ ألابذکرالله تطمئن القلوب﴾ .

اسلامی خلافت به څنګه قایمیږي (۱) دایو اوږد بحث دی دیته دځانلېږ کتاب ضرورت دی (۲) ددی څه بیان زمونږ دغه کتاب کی شوی هم دی.(۳) ته صحیح ایمان جوړ کړه، عمل صالح کوه یعنی په ټول دین باندی عمل کوه ، لمونځ قایم کړه زکات ورکوه، دالله او درسول صلی الله علیه وسلم حکم منه دالله عبادت کوه شرک مه کوه نو الله به ضرور خلافت درکوي. وګوره سوره نور ایه ۵۵ ،۵۶ ، ۵۷.

په ۱۳/ ۱۲/ ۲۰۰۷ باندی دشپې څوارلس منتهه له پاسه یولس بجی داکتاب پای ته ورسیدو الله دی قبول کړي او زمونږ ګناهونه دی معاف کړي اودا کتاب دی دخلکو دهدایت سبب وګرځوي الله دی مونږ هم په سیده لاری ثابت کړي آمین.

( ابوعمر مقبول اورکزی)




الهدیٰ پرنټرز
ندیم اریا سنٹر محلہ جنگی پشاور
Ph#091-2580182
0300-5991873